...مؤسسې سروې بې بنسټه وبلله

...و په
...کشن
...خلاف
... په
...رحالو
...له ده
...ې په
...ب په
...قوق
...رکې
... چې

دعدلي ارګانونوله خوا محکمو ته سپارلي شوي دي دناقانو جزائي قوانینو اوپه تیره بیا دښځې پرخلاف دتاوتریخوالي دبندولو دقانون په رڼا کې له قضايي پلوه څېړلي شوي دي اوپه محکمو کې دښځې پرخلاف دتاوتریخوالي دبندولو دقانون دتطبیق دلارې پر سر هیڅ راز خنډ او ستونزه نشته او بوازېنۍ ستونزه دقضاییه قوې داجراآتو په باب دغېر مسوولو ژبوالو بنسټونو نه درک او نه پوهاوی دی په داسې حال کې چې دقضائیه قوې خپرونو او وېب سایت ته مراجعه ددغو ټولو اندیښنو حل کوونکې ده ستره محکمه یوځل بیا ددغه شان بې بنسټو سروې ګانو خپرول دعامه ذهنونو دمغشوشولو په لاره کې هلې ځلې بولي اوهغه په کلکه ردوي او بوازې افترا بولي عالي شورا وروسته له اجندا سره سم رسیدلي استهدآکاني وڅېړلي

باختر

Ketabton.com

...ان سره ملګرتیا او همکارۍ ته ژمنه ده

...وړل چې ایټالیا له افغانستان سره د خپلو مرستو او همکاریو دوام ته په کلکه ژمنه ده

...ه دا ټرون لري چې نه یوازې د همکارۍ پر روحیه به ټینګار وکړي، بلکې دا به هم ثابته کړي ...ي د مسوولیتونو له عهدې څخه په ښه ډول وتلی شي غني

چې د اصلاحاتو لپاره یې کوم لوېښت لاس پورې کړی، د ایټالیا هېواد لپاره د اهمیت وړ دی او ورڅخه خپل ملاتړ څرګندوي ده ...وپل چې ایټالیا په تېرو کلونو کې د

ملګرتیا ته دوام ورکړې او د افغانستان پر وړاندې به خپلې ژمنې په ښه ډول ترسره کړي جمهور رییس محمد اشرف غني په تېرو ۱۲ کلونو کې له افغانستان سره د ایټالیا

ketabton.com: The Digital Library

سرمقاله
د افغانستان لپاره د لندن مهمه نړیواله غونډه

په یادو کې ده، چې سبا پنجشنبه او جمعه، د لیندۍ په دیارلسمه او څوارلسمه، د افغانستان لپاره د لندن نړیواله غونډه جوړه شي، دغې غونډې ته هم افغان حکومت او هم نړیوالې ټولنې پوره تیاری نیولی دی. افغان ولسمشر اشرف غني د یوه پلاوي په مشرۍ په دې غونډه کې گډون کوي، یاد غني به دې غونډې ته مهمه طرحه وړاندې کړي، ده دې غونډې اهمیت ته دې کې دی، چې نړیواله ټولنه له دیارلسو کلونو وروسته د افغانستان د پر پښو درولو په موخه د نوي پلي کېدونکي لپاره د افغانستان ملاتړ ته دوام ورکوي، دا لسیزه له ۲۰۱۴ کاله پیل او تر ۲۰۲۴ کاله پورې دوام کوي. دغه راز به په تېرو دیارلسو کلونو کې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د مرستو څرنگوالی هم وارزول شي، خو افغان مشرتابه دې غونډې ته له مخه نوي پښتونو، د توکیو د کنفرانس پرېکړې او نوي اقتصادي لید سره ورغلي په توکیو کې افغانستان د خپلې اقتصادي پراختیا لپاره د بدلون لسیزې تر عنوان لاندې اوږد مهالې ترلید وړاندې کړ چې پسټیر تکې یې پر بهرنیو مرستو د افغانستان د اقتصاد د تکیې کمول وو. همدارنگه، افغانستان او نړیوالو د بدلون د لسیزې په اوږدو کې د خپلو اقتصادي همکاریو د پلي کولو لپاره د توکیو د متقابل حساب ورکولو چوکاټ جوړ کړ چې هم د افغانانو او هم د نړیوالو لپاره د عملي لارښود حیثیت لري. دا خبره منل شوې ښکاري چې د لندن په کنفرانس کې به یې لاسته راوړنې او په مخکې پرتې ننگونې وارزول شي. همدا نوي اقتصادي لید چې افغانستان به یې په لندن کې نړیوالو ته وړاندې کړي، ښتونه یې د کابل په کنفرانس (۲۰۱۰ کال) کې تعریف شوي، د توکیو په کنفرانس کې تایید شوي او د لندن په کنفرانس کې به ارزول کېږي. په تېرو دیارلسو کلونو کې نړیوالې ټولنې هم د نظام جوړونې او هم د اقتصادي پیاوړتیا په برخو کې له افغانستان سره مليارونو ډالره مرستې کړي او د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو په دې لاره کې لویې قربانۍ ورکړې دي. ده دې لپاره هم نړیوالې ټولنې او هم ناټو کښې غونډې جوړې کړي، چې د بروکسل پرونۍ او د لندن سبانۍ یې ورښتې کړې دي. د لندن په غونډه کې افغان مشرتابه به لوړ مورال گډون کوي، د خپلې بسیا ښې لپاره دا طرحه مهمه او د منلو وړ ده، ځکه افغان حکومت د نړیوالې ټولنې ټول شرطونه پوره کړي او د ناټو پوره ملاتړ یې بیا هم خپل کړی دی. دغه راز افغان حکومت د ښې حکومتوالۍ، مدیریت کولی شي، تر ټولو مهمه دا چې له یوه ولسمشره پل هغه ته د سیاسي واک لېږد تر سره شو او افغان حکومت له امریکا او ناټو سره امنیتي تړونونه لاسلیک کړي. هم دي له نړیوالې ټولنې افغان حکومت غواړي، چې مرستې یې د افغان حکومت له ... او هیواد پر خپلو پښو ودرولی شي، خو افغان حکومت نه غواړي، چې د تل لپاره د نړیوالې ټولنې د اوږو بار وي. پوره باور دی، چې افغان حکومت به له پلان سره سم د نړیوالې ټولنې مرستې را جلب کړي، ځکه د سیمې او نړۍ غوښتنې او دغه راز د سیمې او نړۍ لپاره د افغانستان مهم ترانزیټي او ستراتیژیک اهمیت نړیواله ټولنه د افغانستان تل پاتې ملاتړ ته هڅوي.

د کورني او بهرني سیاست ننننۍ

د لاجوردو پر لاره کار کېږي، چې د سوداگرۍ او راکړې ورکړې لپاره چمتو شي

تمیم

افغان حکومت په ټول زور هڅه کوي، چې د خپلې سوداگرۍ، راکړې ورکړې او کورنیو تولیداتو او صنعت لپاره نړیوال بازارونه ومومي، ده دې لپاره د افغان حکومت تر ټولو غوره پام د منځنۍ اسیا له هېوادونو څخه زیات شویو لارو پر ارزښت ورشول شي، چې له دې لارو له نړۍ او په ځانگړې توگه له اروپا سره سوداگرۍ پراختیا او د خپلو مالونو پر مخ نړیوالو بازارونو ته لارې پرانیزي. ورمسه ورځ د افغانستان جمهور رئیس محمد اشرف غني د بروکسل او لندن په غونډو کې د گډون لپاره اروپا ته د سفر په لړ کې د آذربایجان په پلازمېنه باکو کې لږ شېبه او د دغه هېواد له جمهور رئیس الهام علي اوف سره یې په دې اړه وکتل په دې کتنه کې دواړو لورو د افغانستان او آذربایجان ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د همکاریو پر پراختیا ټینگار وکړ او وې ویل چې دواړه هېوادونه باید د سیمه ییزو همکاریو له لارې خپلې اقتصادي همکارۍ لا نورې پیاوړې کړي.

د آذربایجان جمهور رئیس الهام علي اوف خبل افغان سیال ښاغلي غني ته د مینه والمتاب وویلو په ترڅ کې وویل، چې له افغانستان سره د نښلول هېواد ه دوامداره همکاریو پسوځ او له مالپسوولکې هیوه لري. ده د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکاریو له د امنیت په ترڅ کې وویل، هغوی باید په داسې گټورو اقتصادي لانې پوړې گټور چې په کې د دواړو هېوادونو گټې نغښتې وي. د افغانستان جمهور رئیس محمد اشرف غني وویل، موږ په یوازې له آذربایجان سره د خوه اړخیزو همکاریو دوام غواړو، بلکې غواړو چې افغانستان د لاجوردو له لارې له اروپا سره د نیلوو او د دا آذربایجان له مرستې پرته امکان نه لري. ده زیاته کړه زموږ تر لېسه دا دی چې افغانستان د انرژۍ په مرکز بدل کړو خو د دې کار لپاره په هېواد کې د سوداگرۍ او پانگونې پراختیا ډېره مهمه ده په دې کنه کې همدارنگه د افغانستان او آذربایجان جمهوررئیسانو د افغانستان له لارې د سیمې پنو شمیر هېوادونو له د آذربایجان د گازو د لېږد او په سورو بېلابېلو برخو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لېږد مهالو او اوږد مهالو همکاریو په پروگرامونو باندې بحث وکړ او وېیل شوه چې د مطرح شویو موضوع گانو د تخنیکي اړخونو د پیل او عملي کولو لپاره، باید د دواړو هېوادونو له خوا پلاوي وټاکل شي، چې بادې موخې په یو ستراتیژیک چوکاټ کې تنظیم او پلي کړي. د منځنۍ اسیا هېوادونو په تېره بیا د لاجوردو له لارې د افغانستان د سوداگرۍ او مالونو تېرول له ډېرې موده را هیسې تر پلان لاندې مسئله ده، ځکه د لاجوردو لاره د سوداگرۍ لپاره مناسبه ده. دغه لاره د آقینې او د تورغونډۍ له بندرونو پیل او د ترکمنستان د ترکمن باشي له لارې دوام موږي او د خزر له سمندرگي څخه په تېرېدو د آذربایجان له پلازمېنې باکو او وروسته د گرجستان له پلازمېنې په تور سمندرگي کې د پوتي او باتومي له بندرونو او دغه راز د ترکیې د قارش له بنار او د استانبول د بندرونو له لارې له اروپا سره نښلول کېږي، دې له په کتو سره د لاجوردو لاره د افغانستان د سوداگرۍ لپاره لنډه او چټکه لاره ده هغه بله سه شتي هم په هغې خبرې غونډه کې چې د افغانستان د سوداگرۍ او صنایعو په خونو کې جوړه شوې وه: په دې اړه پراخ بحث وشو، په دې غونډه کې روښانه شوه، چې د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان او ترکیې ترمنځ د لاجوردو د لارې ترانزیټي، تجارتي او ترانسپورتي همکارۍ، د ترانزیټي او تجارتي خنډونو د کمښت او د دغو هېوادونو ترمنځ د گمرکي عملیاتو د ودې او د بدیلې ترانزیټي لارې په توگه د سمندري بندرونو د لاس رسي په موخه ترسره کېږي. د لاجوردو لاره په حقیقت کې د لرغوني ورېښمو لارې احیا کول دي چې دوه زره کاله لرغونتیا لري. د لاجوردو لاره د وخت له مهمو مواصلاتي لارو څخه بلل کېږي او په عمده توگه د افغانستان لاجورد او نورې قیمتي ډبرې له همدې لارې د قفقاز، روسیې، بالکان او اروپا او د افریقا شمالي هېوادونو ته لېږدول کېدې. اوس نه یوازې افغان حکومت، بلکې د منځنۍ اسیا هېوادونو په تېره بیا چین او هندوستان دواړو د دې لارې پر بیا رامنځته کېدو خپل پام ورنیول کړی دی. ټول په دې هڅو کې دي، چې له دې لارې سیمه او نړۍ سره ونښلوي. دا افغانستان ته یو امتیاز ورکول نه، بلکې د سیمې او نړۍ سره غوښتنه ده، چې له نیکه مرغه د افغانستان ستراتیژیک او مهم ترانزیټي اهمیت دا هر څه د افغانستان پر گټه ور کاره کړي دي. مو چې د سیمې هېوادونه به هم ترې گټه پورته کړي، خو د افغانستان لپاره یې اهمیت په دې کې زیات دی، چې پاکستان د افغانستان پر مخ ترانزیټي لارې تړلې او که یې پرانیزي هم دا هېواد یې ښلي بیا بیا وتړي، ځکه چې د تاریخ په اوږدو کې یې دا کار کړی او بې هم پرې کلک ولاړ دی، خو د منځنۍ اسیا د هېوادونو له لارې او په تېره بیا د لاجوردو او ورېښمو پخوانۍ لارې بېرته را ژوندۍ کېږي، چې د پاکستان د لارې بدیل ځه، چې ټولو لوی اهمیت هم لري.

د لندن او ناټو غونډې او له هغو څخه د افغانانو غوښتنې

شاولي قرار

دافغانستان جمهور رئیس دخپلو کلونوکلونو جگړه ځپلو هېوادوالو دغه دول غوښتنو او وړاندیزونو په پام سره دنجیب هېواد په پلازمېنې بروکسل کې دناټو په دغې وروستۍ غونډه کې په خپلې ویناکې دناټو له غړو هېوادونو څخه هیله وکړه چې دیترشیو سترو لاگینټیس په توگه دې دترهگرو دا سیمې اوترې دا ستخباراتي شبکو دترورانو دخپلو له پاره افغاني امنیتي ځواکونه په وړیا ډېر راز رازيو مخ تللو وسلو دې سمال کړي اوهم دې په اقتصادي چاروکې له افغانانو سره پوره مرستې نه ونه ډاکې. همدارنگه دافغانستان ولسمشر په دافغانستان په اړه دلندن دنړیوال کنفرانس دجوړېدلو په درشل کې هم چې نن اوسبا په دانگلستان په کوربه توب دنړۍ دټولو شپېتو هېوادونو ۲ مخ

دا چې له یوې خوا د افغانستان نوی ولسمشر محمداشرف غني دخلکو د اراده له مخې په سوله ییزه او دیموکراتیکه فضاکې دهېواد واک ته رسېدلی دی اوپه وړاندې یې زیاتې ستونزې پرتې دي او ځکه یې اوږل غواړي اوله بلې خوا له هېواده دبهرنیو ځواکونو دوتلو بهیر هم درابرسېدو کېدو په درشل کې دی او دافغانستان دتولو امنیتي چارو دبرمخ بیولو ستر مسئولیت افغان امنیتي ځواکونو له سپارل کېږي، نو ورسره جوخت دافغانستان خینې مومې کورني او بهرني کسري، له دغه دول فرصتونو څخه دناوړه گټې اخیستلو له پاره په خپلو پټو شرمانه اسونو لپاره خلاټ، هلو ځلو سره او دغه راز ترهگرو اوترورستي ډلو دهېواد په مرکز اوولایتونو کې دبخو، ماشومانو اوبوډاگانو په گډون دبې گناه اوبې دفاع خلکو د وژلو اونورو اسلامي ضد، انساني ضد اوترقي ضد عملونو د سرته رسولو له پاره خپلو خائنگو اوغلجکې بریدونو ته زور ورکړی دی اودخلکو ژوند اندېښنې سره رایاروړلی دی، نو دغه دول ستونزو په پام سره دافغانانو ستړي غوښتنې او وړاندیزونه دادي چې دتاریخ په دغو حساسو شیبو کې نوی افغان ولسمشر محمداشرف غني دافغانستان په اړه دلندن دراتلونکي غونډې اودغه راز په بروکسل کې دناټو دغړو هېوادونو دهېوادونو درخه والو مرستندویو هېوادونو پوره مرستې وغواړي چې پرمټ یې افغاني امنیتي ځواکونه له هره پلوه پرخپلو پښو ودرېږي او وکړای شي چې له هېواده دبهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته په بېوازې ډول له دښمنانو سره ټېغرې ووهي برگوخ، کړی اوپه هېواد کې دولتواکي په خبر دلیرو دیارلسو کلونو له راوړنې دترهگرو له شره خوندي کړي دترلو ترورستي ډلو دوحشیانه بریدونو او نورو ولوټ دشمنولو اوپه سیمه کې دحقاني اوسخت دریځو افغان طالبانو په څېر دترورستي ډلو دخپلو اوغضوي دخالو او روزنځایونو دله منځه وړلو په موخه دبروکسل په دې غونډه اودغه راز دلندن په راتلونکي نړیوال کنفرانس کې

به حالت زندگی معلولین ومعیوبین کشور باید توجه شود

احسان

دوازدهم قوس مصادف است با سوم دسمبر ۲۰۱۴ میلادی روزجهانی معلولین و معیوبین، روزآنانی که مظلومانه معلول و معیوب شدند. بیش از سه دهه جنگ متداوم درکشور تاثیرات ناگواری را در تمام عرصه های زندگی اجتماعی، فرهنگی واقتصادی مردم ما به جاگذاشته وبه صورت مستقیم پایه های بنیادی همه عرصه ها را متاثر ساخته است اما بیشترین قربانی این جنگ را بوعلاوه خرابی، ویرانگری و سوزاندن هستی کشور ما مردم بی دفاع درمقابل خود خواهی های جنگ افروزان ودهشت افگنان متحمل شده اند که بیشتر گردیده است. خوشی زندگی وسعادت مردم را به شیوه های گوناگون از وشان گرفته وتکخکامی های مختلف را نصیب خانواده های هموطنان ما نموده است. ما روزانه به چشم سرمشاهده میکنیم که صد ها وهزار ها هموطنان ما درکنار سرک ها وکوچه ها به گدایی دست نیاز را دراز می کنند وحتی برای بدست آوردن یک وبا چند افغانی عذر و زاری مینمایند که این کار آنها درکشور یک نوع مایه سرافگنده گی به جامعه ودولت و خودشان میباشد زیرا هیچ انسانی نه میخواهد تا مجبور شود نان ذلت وتوهین آمیز را که غرور

وشهامت انسان را پامال مینماید بخورد و یا مطالبه کند درحالی که قانون اساسی کشور ما دولت را به ایجاد جامعه مرفه، مترقی وتامین حقوق بشر وعدالت اجتماعی و تحقق دموکراسی مکلف گردانیده است واساسات دینی ومذهبی کشور ما نیز حکم مینماید که باید از درماندگان، معلولین و معیوبین خویش وارسی ودلجویی نماییم وعزت نفس وکرامت انسانی آنان را حفظ وحرمت بگذاریم وطوری زندگی خوب وبهتر وآبرومندی را برای شان مهیا گردانیم که به حیث از هشت صدو پانزده هزار معلول ومعیوب به جاگذشت و تا امروز دولت افغانستان با سعی وتلاش خود نتوانست کوچکترین درد آنان را جبران بکند معلولین ومعیوبینی که روزی دارای همه چیز بودند یعنی صحت وبدن سالم داشتند اکنون علیل وناتوان، فروگیر درمحرومیت وملوسیت اند ورنج طاقت فرسایی را بدوش می کشند این واقعیت مسلم کشورماست هرآن معیبتی که بر جبین میهن به میراث مانده است ناشی از پدیده شوم جنگ هایی است که بالای این ملت مظلوم تحمیل

شهروندان متساوی الحقوق درکشور شناخته شده از تمام موازین حقوق انسانی واسلامی بهره مند گردند. چرا ملیونها انسان معلول و معیوب درکشور ما چنین زندگی درد آور داشته باشند. بنابرین دولت باید در جهت رفع مشکلات روحی وجسمی این قشر مظلوم مساعی همه جانبه نموده زمینه کار تحصیل و تعلیم را برای آنان فراهم سازد

اگر به کار کرد های دولت در خصوص معیوبین وبازمانده گان دوران جنگ در افغانستان نگاه شود هیچ نوع دست آورد وابتکار در این زمینه صورت نگرفته است حتی دروداخت مزد آنان توجه جدی صورت نگرفته است

بلی، حالا که حکومت وحدت ملی به اساس توافق سیاسی بوجود آمده است باید به حال معلولین وبازمانده گان رسیدگی شود وبه مشکلات بی سرپناهی، بیکاری، تعلیم و تحصیل فرزندان شان دقت لازم صورت گیرد

بناً لازم است علاوه ازتریع عملی برنامه های روی دست گرفته شده پروگرام های وسیع دیگری که بتواند زندگی این معلولین ومعیوبین وبازمانده گان مستحق را به روال عادی برگرداند، اجراگردد و هم قابل یاد آوری است که وارسی ورسیدگی به معلولین معیوبین وبازمانده گان شهدا صرفاً وظیفه دولت نیست، بل انجام هرگونه کار وفعالیت برای این قشر وظیفه ملی واخلاقی وانسانی کلیه توانمندان و اربابان ثروت است زیرا معلولین ومعیوبین الگوی سرفرازی وزشادت درکشورند.

له ناروغانو سره د دولتي چارواکو او ملي سوداگرو مرسته د خدای (ج) شالی لامل کېږي

سمیع الله ـ سمیع

عبدالله اوبوشمېر نورو چارواکو خپله غمشریکي ښکاره کړه اوهم یې له ټوموړي کورنۍ سره نقدي مرستې وکړې. چې د دولتي چارواکو دغه غمشریکي اومرستې دخلکو له خوا ډېرې وستایل شوې. دغه رنگه درېدونکو پېښو په دوام دروان کال دلیندۍ دمیاشتې په دویمه نیکښنې په ورځ دپکتیکا ولایت دیحیی خېلو په ولسوالۍ کې د والیبال په میدان کې ځیوځانمرگي برید له امله چې دحقاني د تروریستي شبکې له خوا سره ورسید ۴۲ تنه شهیدان اوله ۶۰ کسانوڅخه زیات ټپیان شول دیسي ټپیان دیو زر دملي اردو داکو په وسیله کابل ته دسردار محمد داود خان روغتون ته راتقل شول اوتر درملنې لاندې ونیول شول له نوموړو ټپیانو سره دمرستې لپاره دجمهور رئیس لومړی مرستیال ستر جنرال عبدالرشید دوستم په خپله بېلازار ته لاړ اوله دوکاندارانو څخه یې بېوه زیاته اندازه شیدې. مرباشات پېر نوشلی. ۳ مخ

په تېرو ۱۳ کلونو کې دامریکا اوناټو ځواکونو په خپلسرو پوځي عملیاتو کې چې په بېلابېلو نومونو په مرکز اودهېواد په نورو ولایتونو کې سرته ورسېدل زیات شمېر بې گناه ملکي کسان شهیدان اوټپیان شول همدارنگه دجگړې له وېرې بوشمېر افغانانو دابه وکیله چې دخان اوډ خپلې کورنۍ د ژوندي ساتلو لپاره خپل هېواد پرېږدي اوبهرنیو هېوادونو ته کډوال شي، چې په دغه لېست زیات شمېر افغانان ایران، پاکستان اروپا امریکا اوبوشمېرنورو لوېدیځو هېوادونو ته کډوال شول، خو بوشمېر افغانانو بیا دابه وکیله چې دخان دژوندي ساتلو لپاره له خپلو سیمو له کډوال شي، چې له دغه رنگه کډوالو سره چې لاتر اوسه په کډوالۍ کې ژوند کوي دژوند دآسانتیا وولپاره له مکگرو ملتونو اوله په خپله دافغانستان دولت پوره مرسته کړېده او په سختو شرایطو کې اوړي او ژمي تېروي اوله سختو اقتصادي او روغتیایي ستونزو سره مخامخ دي، چې لاتر اوسه بې سرپناه هم چا نه دي خوړلي. له یلې خوا په تېرو ۱۳ کلونو کې دجگړې په بهیر کې دشهیدانو له کورنیو اوټپیانو سره وخت په وخت د دولت له خوا مرسته کېدله، چې دهرشهید کورنۍ ته ۱۰۰۰۰۰ افغاني اوهرټپي لپاره (۵۰) زره افغاني ورکول کېدلې، چې دغه پیسې هم دامریکا له خوا، له دولت سره مرسته کېدله. په تېرو ۱۳ کلونو کې پر دولت تل داسې نیوکې کېدلې چې دشهیدانو له کورنیو اوټپیانو سره ناچېزه مرسته کېږي، کله چې دهېواد په ژغورلو سیمو کې چې دامنیت دمسوولیت لېږد له بهرنیو ځواکونو څخه کورنیو امنیتي ځواکونو ته ورسېده او کورنیو ځواکونو په خپلواکه توگه دطالبانو اوتروریستانو په وړاندې دهېواد په بېلابېلو ولایتونو کې پوځي عملیات پیل کړل بیا هم د دولت له خوا، دیځوا په شان دهرشهید کورنۍ ته سل زره افغاني اوهرټپي ته ۵۰ زره افغاني ورکول کېدلې چې دغه کار د ملي وحدت دنوي حکومت ترجوړېدلو پورې دوام وکړ. خو په تېرو ۱۳ کلونو کې بوشمېر سیاستوالو په خپلو مرکو کې همیشه داخبره کوله چې دبهرنیو ځواکونو په پوځي عملیاتو کې چې کوم کسان شهیدان او یا ټپیان کېږي باید چې له امریکا اوناټو څخه یې غرامت وغوښتل شي، خو دغه کار هم ونه شو، داچې اوس دملي یووالي حکومت دمحمد اشرف غني په مشرۍ جوړ شوی دی نو کوښښ کېږي چې دپوځي عملیاتو او دځانمرگو بریدونو له ټپیانو او دشهیدانو له کورنیو سره پوره غمشریکي وشي، چې ښکاره بېلگه یې دروان کال دلړم دمیاشتې په ۲۵ مه نیکښنې په ورځ دکابل ښار په ۶ مه ناحیه کې د دارالامان پر سړک ځانمرگی برید دی چې له امله یې دولتي جرگې وکیله شکریه بارکزۍ ټپي شوه، خو دکابل پوهنتون د دریم ټولگي محصله پیغله قسیمه په کې شهیده شوه دنوموړې شهیدې له کورنۍ سره دغمشریکۍ اومرستې لپاره دجمهور رئیس لومړي مرستیال جنرال دوستم، دلوړو زده کړو، بهرنیو چارو وزیر ډاکتر عبدالله عبد، دملي یووالي دحکومت اجرائیوي رئیس ډاکتر عبدالله

روغتیا او ژوند

ځان وژنه یوه ټولنیزه او روغتیايي ستونزه ده

نړۍ هر کال د سپتمبر لسمه له ځان وژنې د مخنیوي د ورځې په نوم لمانځي. په افغانستان کې ډېری ځوان او ځنګنی نسل ځان وژنو ته لاس اچوي، خو د یوه کال په اوږدو کې په هېواد کې د ځان وژنې څه د پاسه ۲۵۰۰ پېښې شوې چې تر ډېرښتو زیاتې قربانیانې یې ښځې دي.

ځان وژنه د یوې ټولنیزې او روغتیايي ستونزې په توګه پېژندل شوې ده او علتونه یې لوړه، کورنۍ تاوتریخوالی او جنسي تیری بلل شوي دي.

د عامې روغتیا سرپرسته وزیره ثریا دلیل وايي، دا ستونزه په افغانستان کې هم خورا پراخه ده، خو علتونه یې تر نورو ټولو ټولو څه توپیر لري.

د هغې په وینا، که څه هم په افغانستان کې د ځان وژنې د پېښو دقیق ارقام نشته، خو د ځینو رپوټونو له مخې، ځان وژنه د ناروغه وو په برخه، په ښځو کې زیاته لیدل کېږي او نږدې ۸۰ فیصده ځان وژونکي هغه کسان دي چې واده یې کړی دي.

په کابل، هرات او میدان وردګ ولایتونو کې د شویو څېړنو پر بنسټ، ښځې زیاتره د ځان پرورانده د تاوتریخوالي له کبله ځان وژنه کوي او له ۱۶ نه تر ۱۹ کلنۍ پېغلې زیاتره دغه کار ته لاس اچوي. ۹۵ فیصده د ځان وژنې پېښې د هغو ښځو په لاس شوي چې بېسواده یا کم سواده وې، خو ۵ فیصده نورو په تصادفي ډول په ځان وژنې لاس پورې کړی دي.

ځان وژنه د نړۍ دویم علت

د عامې روغتیا وزارت چارواکي وايي، د افغانستان د درېو روغتونونو د رپوټونو له مخې په تېر یوه کال کې څه د پاسه ۲۵۰۰ د ځان وژنې پېښې شوي دي چې د زیاتو سوادو د خورلو او ځان سوځولو په بڼه دي.

په نړۍ کې هر کال نږدې یو میلیون تنه په ځان وژنې لاس پورې کوي، یعنې په هرو څلورو ثانیو کې یو تن ځان وژنه کوي چې د چارواکو په وینا، دا کچه په ټولنیزې پېښو، جګړه‌ییزو او طبیعي پېښو کې تر وژل شویو انسانانو خورا لوړه ده.

د عامې روغتیا سرپرسته وزیره ثریا دلیل وايي، په افغانستان کې د ځان وژنې د مخنیوي لپاره لویو او پراخو پروګرامونو ته اړتیا ده.

د هغې په خبره، د ځوانانو لپاره د زده کړې د زمینې برابرول او د لوړې او لېوالتیا محرومیت له منځه وړل ستر اهمیت لري.

نوموړې وايي، په افغانستان کې د ځان وژنې ډېرې پېښې د شرم او کلتوري ستونزو له کبله پټې پاتې کېږي، خلک نه غواړي چې د خپلې کورنۍ د غړي د ځان وژنې په اړه چاته د معلوماتو د ورکړې په لټه کې شي.

خو د عامې روغتیا سرپرسته وزیره وايي، که د ستونزو د رامنځته کېدو په لومړیو مرحلو کې د ځان وژنې له قربانیانو سره مرسته وشي، نو تر ډېره بریده به ځان وژنه کمه شي.

هر کال د نړۍ په کچه له ۸۰۰ زرو تنو څخه زیات کسان د ځان وژنې له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي او په نړۍ کې له ۱۵ څخه تر ۲۹ کلنو ځوانانو په منځ کې ځان وژنه د مړینې دویم علت بلل کېږي.

د افغانستان لپاره د نړۍ د روغتیايي سازمان ...

خون بینی

خون بینی عبارت از آمدن خون از سوراخ های بینی بوده که یک واقعه تعاجل بوده که در تمام سنین، اطفال، جوانان و کاهلان دیده شده میتواند. خونریزی بینی یک مرض بوده باید دانسته شود که خونریزی قدامی است یا خلفی

Little's area در قسمت قدامی سطح حجاب انف فقط بالاتر از دهلیز انف قرار داشته و توسط چهار اوعیه که باهم دیگر یکجا شده ساخته شده و باعث تشکل یک ذخیره وعایی میگردد که این ذخیره توسط هوای شهیقی خشک گردیده و محل معمول خونریزی نزد اطفال، جوانان و کاهلان بوده که اکثراً توسط تماس با ناخن ها سبب خونریزی میگردد. همچنان یک ساحه دیگر در تحت نهایت خلفی قرین سطح جائیکه دو شریان باهم یکجا میشود قرار داشته و سبب خونریزی های خلفی بینی بطرف بلعوم را تشکیل میدهد.

اسباب خونریزی بینی: علت خونریزی ها از طریق بینی قرار ذیل است

a) اسباب موضعی در بینی و نزوفرنکس
b) اسباب عمومی
c) اسباب نامعلوم

a) اسباب موضعی در بینی و نزوفرنکس
1. در بینی یا اسباب مربوط بینی
a. ترضیضات – ترضیضات توسط ناخن ها در بینی، جروحات بینی، عملیات هائیکه در داخل بینی انجام میشود، کسر های قسمت وسطی وجه، کسر بینی و کسر های قاعده قحف، ضربات شدید بالای بینی و عطسه های بسیار شدید
2. انتانات
a. در حالات حاد – رینیت های ویرسی، دیفتری بینی، سینوزیت ها
b. در حالات مزمن – تمام امراضیکه سبب تشکل ارچق در داخل بینی میگردد مانند اتروفیک رینیت، رینیت سکا، توبرکلوزس، سفلیس، تثقب حجاب، پرده بینی، امراض گرانولوماتوزس، رینوسپوریدیوزس وغیره
3. اجسام اجنبی داخل بینی
• اجسام اجنبی حیه جوک و لاروا حشرات
• اجسام اجنبی غیر حیه مانند تمام اجسام اجنبی، موره، نخود و غیره که در

داخل بینی فراموش شده باشد و یا سنگ های داخل بینی
4. تومورها: تومور های داخل بینی و سینوس ها مانند تور های سلیم و خبیث
5. تغیرات آب وهوا: پائین شدن ناگهانی از فضا به پائین و همچنان در نزد آبیازان
6. انحراف حجاب بینی
7. اسباب ... ناوفرنکس
a. ... تولید یا التهاب لوزه نزوفرنکس
b. تومور های سلیم متجاوز
c. تومور های خبیث

b) اسباب عمومی خونریزی های بینی
i. سیستم قلبی وعائی مانند فرط فشار خون، تصلب شرائین، تضیق دسام میترال
ii. امراض خون: انواع مختلف سرطان های خون
iii. امراض جگر: مانند سیروز کبد
iv. امراض کلیوی: مانند نفریت مزمن
v. ادویه ها: استفاده زیاد از اسپرین و دیگر ادویه های ضد درد بخاطر درد های مفاصل و سردردی، تداوی امراض قلبی توسط ادویه های ضد علقه خون
vi. وارد شدن فشار بالای منصف مانند تومور های منصف
vii. انتانات عمومی حاد مانند انفلونزا، سرخکان، آب چیچک، سیاه سرفه، محرقه، سینه وبغل، ملاریا وغیره
viii. عادت ماهوار: بعضاً در نزد زنان در زمان عادت ماهوار خونریزی بینی مشاهده میگردد
ix. اسباب نامعلوم: اکثراً اوقات علت آن نامعلوم میباشد

تداوی

✣ کمک های اولیه: خونریزی اکثراً از ناحیه Little's area بوده و میتوانیم با فشار دادن بینی توسط انگشت اشاره و شصت تقریباً برای مدت 5 دقیقه خونریزی کنترول میگردد و مریضان از طریق دهن تنفس نماید و تطبیقات سرد بالای بینی انجام گردد بخاطر تقبض اوعیه که در توقف خونریزی رول دارد

✣ سوزاندن ناحیه خون دهنده: برای خونریزی قدامی مفید بوده در صورتیکه نقطه خون دهنده معلوم گردد ابتدا ناحیه بی حس ساخته شده بعداً عملیه انجام میگردد

✣ Anterior Packing: بند ساختن سوراخهای بینی از طرف قدام که در این حالت سوراخهای بینی توسط گاز مقیم از طرف قدام بند میگردد و در صورتیکه خونریزی توقف نکند مریض به نزدیکترین کلینیک غرض اقدامات بعدی (post Nasal Packing) معرفی گردد

دوکتور فدامحمد عظیمی
ترینر متخصص امراض گوش، گلو و بینی

د ژېړې تبې وختي نښې نوې درملنې ته لاره اوارولی شي

یوه څېړنه وايي د ژېړې تبې، یوه ساري ناروغۍ، چې کېدای شي مرګونې وي، د وختي نښو اخیستل یې کېدای شي یوې نوې درملنې او لا غوره تشخیص ته لار هواره کړي. د امریکا ساینس پوهان چې د «استوايي سیمو له پامه غورځول شویو ناروغیو پلاس» جورنال کې یې لیکنه کړې په

او د ځینو سیستم یې ګډوډوي. د روغتیا نړیوال سازمان وایي دغه څېړنه هڅوونکې ده. دغه ویروس چې د افریقا او لاتینې امریکا استوايي سیمو کې مېشت دي، د یو ډول ژېړې تبې او بدوډې زیانمنېدو لامل کېدی شي، او ډېر یې په یا خپګر په لنه کوي. د روغتیا نړیوال سازمان وایي که یې درملنه ونه

د کلیفورنیا پوهنتون څېړونکو ۱۰ مکاکس بیزوګانو ته ژېړه ناروغي ورکړې. دا چې پایلې یې سره پرتله کړې، د کنټرول ډلې ته یې ویروس او واکسین ورکړ. دغې څېړنې وښي د ویروس ۲۴ ساعتونو کې د ژوبو ۱۰ سلنه لمفاویات، یا د وینې سپینې حجرې په ۲۰ ژوبو کې ورکه شوې، چې په ناروغیو اخته کېدو سره یې مخامخولي شي په کلیفورنیا کې محکتبې ایکوالي الهیم مباوډې وېلي ژېړه ناروغي په انسانانو کې تر خورا ورو سټي پړاوه پورې نه پېښېږي، او د درملنې لپاره یې هېڅ مثلې درمل نه شته، په دې معنا چې وختي تشخیص د ژوندي پاتې کېدا لپاره اړین دي، څکه چې پر اوبو د ښا سخالیت او مالي پام لپاره لار هواروي. دې وویل به لرې پرلنو سیمو کې خلکو ته د واکسین رسول، چې اړینا ورنه لري، خورا ننګونکې چاره ده، او هم دا چې دا د ماشومانو او زړو لپاره خوندي نه دي. څېړې موندلې چې د وینې سپینو کرویاتو زیان په به کې له پخلون مخکې پېښېږي، په دې معنا که دا انسانانو ته لېږدي، ډاکټران یې وختي موندلې شي، او د ژوندي پاتې کېدو فرصتونه به کېدی شي.

دغه ویروس چې د افریقا او لاتینې امریکا استوايي سیمو کې مېشت دي، د یو ډول ژېړې تبې او بدوډې زیانمنېدو لامل کېدي شي

مکاکس بیزوګانو کې د دغه ویروس کره کتنه کړې، چې په څه د پاسه ۲۰ کلونو کې پر بیزوګانو لومړۍ څېړنه ده. دوې موندلې چې دغه ویروس څنګه بدن ته زیان رسوي. شي نو دغه ویروس ۵۰ سلنه پرې اخته شوي خلک وژني. هر کال پر دې ناروغۍ د اخته کېدو شاوخوا ۲۰۰ زره پېښې کېږي

منل شوې درمل نه شته

غښې عادي مه ګڼئ، د مېرمن ویلس ګوته یې غوڅه کړه!

کله کله عادي غښې خومره خطرناکې کېدی شي دا خبره برتانیه کې لاتنه شوه چېرته چې یوې وړې غښې د یوې ښځې ګوته وچیچله چې له هغه څخه خپرېدونکي زهر د ښځې د ژوند لپاره خطر وګرځېد او ګوتې یې کولو ته اړ شوه. برتانیې د کنټرې درهم اوسېدونکې ښځه آندریا ویلس خپل کور کې له ماشومانو سره ناسته وه چې ناڅاپه یوې غښې د دې ګوته وچیچله. د غښې له چیچلو سره د آندریا ګوته وپړسېده او مجبوره شوه چې روغتون ته ولاړه شي. روغتون کې یې د دې ګوتې ۱۲ عملیاتونه وشول. د عملیات کوونکي ډاکټر په وینا زهر د آندریا زړه

خواته په خپرېدو پیل کړی وو که څه هم د زهرو خپرېدل ډېر ژر کنټرول شول؛ خو ډاکترانو د آندریا ګوتې په پرې کولو مجبور شول. آندریا ویلس وایي چې د غښې چیچلو ډېره په تکلیف کړې وه او ګوته یې پړسېدلو سره تورہ شوې وه. د نوموړې په وینا دغه صحنه د ډاروونکې فلم له صحنې څخه کمه نه وه او داسې ښکارېده چې اوس باید یوازې د مرګ انتظار وکړم. برتانیه کې دغې غښې

له بلیک ویډو اسپایډر (Black Widow Spider) وېل کېږي چې ډېر زهر لرونکې وي. په دې ډول غښو کې نیکوټایزینګ فیسټیز (Necrotizing fasciitis) نومې زهر موجود وي چې پر انسان یې دغه غښه غوښه هم خوړلی شي.

ادب ، تاریخ او فولکلور

وزیران

سمیع الله سمیع

موږ له په کارې به پوهان وزیران
په کار ملک کې ماهران وزیران
چې پوره پوهه ځان سره ولري
فیض رسوي ملک له ښه شان وزیران
د خپلو خلکو نوکري چې وکړي
غواړو موږ هغې خادمان وزیران
د خپل وطن خلکو خدمت چې کوي
غواړو ربښتیني افغانان وزیران
وخت دې همدغه چې په غور وکړو
وټاکو ښه پاخه ، ځوانان وزیران
ستاېل یې هروخت فرض د ځان وګڼو
چې له وطن کړي ځان قربان وزیران
د هر وزیر به باب دې غوروشي
اخلي چې راې له پارلمان وزیران
عدل انصاف هلته قایم وګڼه
د خداې په لار چې وي روان وزیران
خلک به بې کار اوتجربه وستایي
چې ورکړي کار کې امتحان وزیران
له کاره بې سکارې چې بېزاره خلک
نه دې شي بیا قوماندانان وزیران
د ملک په کار کې چې ستومانه نه شي
غواړو سوچه شان افغانان وزیران
اوس ولسمشره په کارده زموږ
چې کړي پیدا ښه باوجدان وزیران

په ننګرهار کې د کتابونو تود بازار او لوړ قیمتونه

د ننګرهار ولایت د کتابونو خپرندویې ټولنې وایي، د هېواد د نورو ولایتونو په پرتله تر بل هر وخت د ننګرهار د کتاب پلورنې او کتاب چاپولو بازار تود شوی دی. د جلال اباد ښار د اسحاقزي مارکیټ په زیرزمینی کې د کتاب پلورنې دوکانداران وایي، داسې ورځ نه وي چې دوی په کې له ۱۰۰ زیات بېلا بېل کتابونه ونه پلوري. په دغه زیرزمینی کې بیا یو شمېر کتاب خپرندویه ټولنې هم وایي چې د اوونۍ په ترڅ کې تر لسو زیات نوي کتابونه چاپوي او بازار ته یې راباسي. په جلال اباد کې د مومند خپرندویه ټولنې مسوول فضل مولا وایي، د کتابونو بازار اوس مهال ځکه ګرم دی چې اکثره ځوانانو د کتاب له مطالعې سره بې کچې مینه پیدا کړې او ډلې ډلې ځوانان اوس ښار ته په دې نیت راځي چې د خپل کورني کتابتون لپاره کتابونه واخلي. دی وایي «اوس مو کارونه ښه شوي دي، هر ورځ تر سلو زیات کتابونه خرڅوو، زموږ بازار هم یوازې په ځوانانو تکیه دی او دا قشر اوس له مطالعې او کتاب سره بې کچې مینه لري، موږ هم هڅه کوو چې د دوی لپاره په ښه کیفیت کتابونه چاپ کړو.» دی وایي، دا مهال په جلال اباد کې نه یوازې دا چې د کتاب پیرودونکو شمېر زیات شوی، بلکې نوي لیکوالان او ژباړونکي هم زیات راټوکېدلي «موږ ته هره اوونۍ نوي نوي لیکوالان خپل کتابونه د چاپ لپاره راوړي او دا ډېر مثبت تغییر دی.» د مومند کتاب خپرندویه ټولنې د مسوول څرګندونې که څه هم هیله بښونکې وې، خو د کتابونو مارکیټ ته بیا په کتابونو پسې راغلو ځوانانو سر ټکاوه چې د هر کتاب بیه له اسمان سره خبرې کوي. ګل محمد چې له کامې ولسوالۍ څخه په کتاب اخستلو پسې راغلی و، ویل یې دی هیله لري خپل شخصي کتابتون په ډېرو کتابونو ښکلی کړي، خو د جلال اباد د کتاب پلورونکو لوړې بیې چې ګوري!

نو دا ارمان به یې پوره نشي «زه د خپل شوق له مخې مجبور یم چې یو کتاب په لوړه بیه واخلم، خو په دې به هم خپه یم چې په کومه بیه زه کتاب اخلم، په هغومره پیسو بل ځای کې دوه کتابه پلورل کېږي.» د جلال اباد اوسېدونکی ۲۲ کلن جاوېد هم له دغې ستونزې سر ټکوي او وایي، له یوې میاشتې یې د ځینو کتابونو لپاره پیسې ټولې کړې وې، خو اوس چې دلته ګوري د کتابونو په مارکیټ کې هر کتاب د اور په بیه پلورل کېږي «دلته ما غوندې اکثره ځوانان راځي او چې ګوري کتابونه ډېر ګران دي، نو بېرته ستنېږي، اړونده چارواکي باید له دوی پوښتنه وکړي او د کتابونو ځانګړي قیمتونه دې ورته وضع کړي.» خو د جلال اباد اکثره کتاب خپرندویه ټولنې بیا وایي، د کتابونو د بیو لوړوالی د دوی د زیات حرص نتیجه نه ده، بلکې لا هم په ننګرهار کې د پرمختللو مطبعو نشتوالی، د دوکانونو د کرایو لوړوالی او له هېواده بهر د کتابونو چاپ دغه ستونزه جوړه کړې ده. د ګودر خپرندویه ټولنې مسوول صادق الله صادق همدا خبره کوي او وایي، دوی اړ دي چې خپل کتابونه د چاپ لپاره پېښور ته یوسي او له هغه ځایه یې بېرته له درانه لګښت سره جلال اباد ته را انتقال کړي. دی وایي، د کتابونو په مارکیټ کې د دوکانونو لوړو کرایو هم خلک اړ کړي چې د کرایو د پوره کولو لپاره کتابونه ګران وپلوري «که زموږ دغه مشکلات حل شي؛ نو بیا خو موږ هم بې انصافه نه یو، حتمي به کتاب ارزانه پلورو او د انصاف له پولې به هم څوک پښه نه اړوي، اوس خو په کتاب پلورونکو قیامت جوړ دی» دی وایي، که حکومت په جلال اباد کې یوه دولتي مطبعه جوړه کړي یا هم داسې څوک پیدا شي چې د خدمت په نیت یوه شخصي او پر ټولو تخنیکي وسایلو سمباله مطبعه پرانیزي؛ نو د کتاب پلورونکو ټولې بهانې به هم ورسره ورکې شي «موږ به تر څو پردیو ته احتیاج لرو، حکومت دې ټکره شي دا د تعلو برېښنا دې په سمه توګه تقسیم کړي، مطبعې دې پرانیزي، نو بیا ګوره چې د جلال اباد د کتاب پلورنې بازار څومره ښه وده کوي او خلک څومره اسانتیاوې احساسوي»

یوسف ظریفي

وطن

کبیر دیدار از ناروی

طبیب درد شو بیا وطنداری بکن
درحفظ وامنیت خاک خویش جان نثاری بکن
دستت رابده به دستم بامن یاری بکن
من دردمند وافتاده ام تومرادل داری بکن
هم پشتون هم هزاره وازبک وتاجک
چون بناء کن صمیمیت رابدل جاری بکن
ګردری به تورسد شود داغ دل من
برای رفع درد ملت خویش پرستاری بکن
نګزار که دشمن دیګر ویران کند وطن را
برای حفظ مادر وطن شب وروز پیره داری بکن
هوش کن که نخوری فریب دشمن راهرګز
بیدار باش که دشمن درکمین است هوشیاری بکن
هرکجا که نهال خشکیده است توآبیاری بکن
درد ها را تسکین بکن رفع همه دشواری بکن
تاسبز وخرم شود همه باغ وبوستان
پرنده خوش الحان شو توهم قناری بکن
چه نشته یی ای (دیدار) درګوشه یی
دشت وصحرای خاره راتوهم ګل کاری بکن

د «انګیزه فرار نخبه ګان حرفه یی از افغانستان» کتاب چاپ شو»

په یوه ملک کې کوم عوامل ددې سبب کېږي چې متفکر او کارکن مغزونه له هېواده پښې سپکې کړي او وتښتي ؟

دا هغه پوښتنه ده چې د منطقي دلایلو په رڼا کې باید ځواب ورته وموندل شي داسې ځواب چې له ملک نه ددوي په وتلو یو پوخ دلیل ثابت شي

که په پیل کې دري متن ته د همدې کتاب د ژباړونکي «مصطفي عمرزي» د سرېزې د یوې وارې پروګراف بېلګه دلیل راوړو چې هغه لیکي «ازآن روزیکه مردمان کوچه و بازار در شئون اجتماعي ،اقتصادي ،فرهنګي و سیاسي کشور راه یافتند و از انروزیکه سر نوشت مردم ما در دستان بي اختیار از اراده قرارګرفت ، نقاش زمان، تابلوي زندګاني افغانان را تیره وتار تر سیم نموده است چرا ؟ زیرا بي خبر ازعلم دین ،چیزي جز فتواي جهل نمیدهند» ښایې همدا هر اړخیز ځواب وي، کفایت وکړي اوپر نوموړي کتاب زموږ دا لنډه تبصره را بشپړه کړې خو بیا هم دموضوع دوضاحت او لا ښه بشپړوالي لپاره دلته یو بل دري متل هم زموږ په ذهن کې ګرځي راګرځي چې وایي «سزاوار رحم است عالم تحت فرمان جاهل ، نوکله چې پورتني ، پروګراف او متل ، دواړه سره یو ځای شي ، ښایي زموږ د یو پوښتني د ځواب لپاره یو بل ته په ممد واقع کېدو سره منطقي او بشپړ ځواب وي ځکه په رښتیا هم کله چې یوعالم د جابر ، جاهل او نایوه ډیکتېټر، فتوا اوفرمان لاندې راشي نوخود به دېته اړ کېږي چې یا د چارو په سمه اجرا کې خطااوخیانت وکړي او له ملک نه پښې سپکې کړي او وتښتي په رښتیا هم د تېرو دریو لسیزو په بهیر کې زموږ په ملک کې کټ مټ ورته کاني وشوې ، کله چې نا اهله او بې تجربې کسان دملک سرداران شول نو پر کار پوهو کسانو باندې یې د فعالیت ساحه را تنګه کړه او په نتیجه کې هغوي یوپه بل پسې له ملکه ووتل سرېزه پر دې په دغه چاپ شوي کتاب کې نورو داسې مسایلو ته هم اشاره شوې چې لوستونکې دې ترڅه حقیقت ته رسوي چې په دې وروستیو څولسیزو کې هرڅوک چې په دې ملک کې قدرت ته رسېدلي د اشخاصوپه ټاکنه کې یې د ضوابطوپر ځای له روابطو کار اخیستی اوداسې کسان یې پر دندوګومارلي چې یوازې د مسلکي وړتیا پر ځای په سیاسي بدماشۍ نه یو هېري په دي مانا چې قصاب یې د طبیب او پوند یې د بینا پر ځای ټاکلي دي او د یوې سرورکې کلاوې په خبریې اداري ، سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي فسادونه را منځ ته کړې نوداکسان به په خپل ملک کې د کومې وړتیا پر بنا ددې ملک ددردونو مداوا شي

په هرصورت د موضوع په ارتباط ددغه کتاب منځپانګه له ملک نه د ظرفیتونو د تېښتې پرلاندې پنځو اساسي مرحلو را څرخي

لومړی له ۱۳۵۷ څخه تر ۱۳۵۸ کال پورې کله چې ملي حکومت ړنګ شو، نو دکمونستانو یو حزبي رژیم را منځ ته شو هغوي خپله توره دعام ولس پر وښو سره او ټول امتیازات یې د خان حق وبلل چې په نتیجه کې د حرفوي نخبګانو تېښته پیل شوه په دې مرحله کې له دیارلس ملیونه یو پنځوس زره وګړوڅخه یې څه کم لس زره هغه کسان چې د یوه شغل مستعد وو له ملکه ووتل

- **دوهمه مرحله** له ۱۳۵۸ کال څخه تر ۱۳۶۵ کال پورې وه چې په دې مرحله کې د ټولو ملي او نړیوالو موازینو خلاف روسانو بربنډ تیری وکړ او د هېڅ ډ سر امن نه و تامین چې په دې دوره کې په ملیونو کسان ګاونډیو او لرې هېوادو ته مهاجر شول او په زرګونو نور د هېواد په مرکز او ولایاتو کې شهیدان شول چې په شهیدانو او کډوالو کې د هرې کټګورۍ استعدادونه شامل وه چې په ۱۳۷۰ کال د کډوالو دغه رقم پنځه ملیونه ته لوړ شو چې نیمایي برخه یې با سواده کسان وو
- **درېمه مرحله** چې له ۱۳۶۵ کال څخه تر ۱۳۷۱ کال پورې وه په دې دوره کې پر شوروي ځواکونو لخوا فشار ډېر شو او ددوی د وتلو اوازې خپرې شوې په دې دوره کې ظرفیتونه اکثرا د کار د نشتوالي او د ملک د اقتصادي محاصرې له امله مخ په وتو شول فابریکې پرچاوې شوې او دولتي بودجه به له یوې مخې پر جګړو مصرف کېدله
- **څلورمه مرحله** له ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۷۵ کال پورې وه چې د ظرفیتونو د فرار تر ټولو خطرناکه او لوړه دوره وه ځکه په دې کلونو کې د غازیانو (؟) ترمنځ خپل منځي کورګډې جګړې پیل شوې شوونځي روغتونونه او نور عام المنفعه تاسیسات پر سنګرونو بدل شول ، اقتصاد په ټولو برخو کې له رکود سره مخ شو او یا په تیه ودربند عامه دارایې چور او چپاول شوه په دې دوره کې دملګرو ملتو د UNHCR شبکې د یوې سروې پر بنا د کابل ښار ۴۸/۲ په سلو کې کورونه ړنګ شول او نورې یې شمېره بشري او اقتصادي ورانی افغانانو ته واوښتې په دې دوره کې ددریو نورو دورو په پرتله ډېرو تحصیلکرده ظرفیتونو له ملکه پښې سپکې کړې او دنړۍ، ټولو هېوادونو ته یې ځانونه ورسول

پنځمه دوره چې له ۱۳۷۵ کال نه د نړیوالې ټولنې تر راتګ پورې په ملک تسلط حاصل کړ دا داسې دوره وه چې د خلکو له ستوني څخه چړې پورته شوې نسبي امنیت را منځ ته شو بې مسولیته متخاصم ټوپک سالاران یوې خواته شول خو د «محدودیتونو» له امله په دې دوره کې له مخکینو دورو پاتې قشر له ملکه ووت په هرصورت دغه تحقیقاتي او له ګوره معلوماتو ډک کتاب د هېواد لوی فرهنګي شخصیت ښاغلي محمد اسمعیل یون د لومړي ځل لپاره په ۱۳۷۸ کال په پښتو ژبه لیکلی او همدارنګه په ۱۳۸۷ کال د کتاب د چاپ تجدید شوی خو د منځپانګې د غنا او اهمیت له امله په ۱۳۹۳ کال ددریم ځل لپاره ښاغلي مصطفي عمرزي په دري ژبه ژباړلی دی

حلیم

د «پشتون ها» تاریخي کتاب له چاپه را ووت

د هرلوی قوم پېژندنه د هغه قوم له تاریخي شالید او نورو ټولنیزو او فرهنګي فعالیتونو سره کلکه ګنډه خوړلې ده ځکه دیوه قوم په اړه دا هرڅه ټول د تاریخ پایه خپلې حافظې ته سپارې اوپه غوڅه



او بې برې توګه د واقعیتونو پر بنیاد ولاړ د راتلونکو نسلونوقضاوت ته سپاري ، په رښتیا هم چې تاریخ د خپلو تاریخي پېښو په سجل کې دچا پروا نلري ، د یوې مقولې پر بنا «هرڅه زوال لري اوله منځه ځي ، خو یوازې هغه څه چې زوال نه لري او له منځه نه ځي ، تاریخ» او د تاریخ پایه ده ، نو باید هڅه وکړو چې له خپلو کړنو اوفعالیتونو داسې تاریخ جوړ کړو چې په را تلونکې کې هروخت د لوستلو وړ وي، د همدې مقولې په استناد د «پښتون ها» په نامه نوې چاپ شوي کتاب چې ښاغلي مصطفي عمر لیکلی په سیاسي لحاظ د پښتنو تاریخ دهغوي حکومتونه او امپراطوري دهغوي چلند له خلکو سره او لنډه داچې د تاریخ په اوږدو کې دهغوي په مدني ، فرهنګي او سیاسي برخو بشپړه رڼا اچول شوې ده دغه کتاب په ښکلي صحافت په ۱۳۲ مخونو کې په دري ژبه ددې لپاره لیکل شوي چې د یو شمېر غیر پښتني مغرضو کړیو ذهنیتونه د پښتنو په اړه واقعیتونو ته وروصل کړي دغه کتاب چې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په تیراژ په روان کال کې چاپ شوي دي په رښتیا هم چې په سیمه کې د پښتني توکم د واکمنیو او نیاو په اړه په زړه پورې معلومات لري دغه کتاب د پښتنو د تاریخي شالید په اړه را څرخي د منطقي دلایلو په رڼا کې د پښتنو په حقیقت او د نورو سیاسي معادلوپه حل کې د هغوي درول په اړه په زړه پورې مطالب ځای پر ځای شوي او همدارنګه د پښتنو د قام د اصیل ماهیت په اړه د پردیو د انګیرنو په اړه دغوڅ دریځ او کلک موقف په ترڅ کې منطقي ځواب وبل شوي دي په دغه کتاب کې له احمد شاه ابدالي څخه چې په ټول تعبیرېي د اوسني افغانستان معمار ګڼلی شو، را نیولې بیا له هغه د مخه په هند کې د پښتنو لودیانو او سوریانودباچاهۍ په اړه بشپړ معلومات سجل شوي او ددوي په فعالیتونواو نیکیو بشپړه رڼا اچول شوې ده که څه هم احمد شاه ابدالي په ۱۱۶۰ لمریز کال د افغانستان باچاه شوخواحمدشاه ابدالي د پښتنو توکم لومړي واکمن نه و بلکې له هغه د مخه میروس خان نیکه هم د اشغالګرو صفویانو په وړاندې د پښتنو د یوه ستر ملي زعیم په توګه د استعماري واکمنۍ ددفاع او طرد لپاره خلکت پر خان را ټول کړي وو او دافغاناتوذهنیتونه یې دهېواد پالنې په اړه بشپړ رو ښانه کړي وو په ټولیز ډول پښتانه تقریبا ۴۰۰ کاله د مخه د سیمې په دغې جغرافیایي محدوده کې نه یوازې دا چې پښتني لو دیانو او سوریانو په هند کې حکومتونه کړي بلکې د پیر روښان او خوشحال خټک دورې هم د مغلانو په مقابل کې د پښتنوتوکم د فرهنګي حماسي او انساني تمدن ځلانده دورې ګڼلې شو چې ددې تمدنونواو فرهنګ ډېرې نښې نښانې تر ننه پورې پر ځای پاتې دي

حیات الله

د «اسلامي مدیریت» نوي چاپ شوي کتاب ته لنډه کتنه

د «اسلامي مدیریت» په نامه ټولګه چې عبدالحمید وردګ لیکلې ده اوپه ۲۳۳ مخونوکې په ښکلي قطع اوصحافت نوې له چاپه راوتلې ده، داسلام ښکلو په اړه دروند اندو، شنونکو، محققینو، تاریخ پوهانو اولیکوالودمطالعې له پاره یوبل ښه اثر دی او دمطبوعاتو په راتلونکې جهان کې دمینه والو د مطالعې له پاره وړاندې شو اوپه اتوخپرکو کې په ۱۳۹۳ ل کال په کابل کې په خیبر چاپخونه کې د ۱۰۰۰ ټوکو په تیراژچاپ او خپور شوي دي دغه کتاب دوه معتبر تضریظونه اویوه سریزه لري چې ټول یې داسلامي مدیریت په اړه دي، دیادونې وړ ده چې ددغه کتاب په ۱۴۶ مخ کې دغیر متقي کارکوونکو زیانونه هم په ۱۲ فاکتورونو کې بیان شوي او دنیوتیزم په اړه څرګندونې په کې شوي دي دیوماهر او متخصص کارکوونکي داستخدام شرایط یې هم ښکلي دي ددغه ادبي اثر لیکوالکي نور کتابونه هم تالیف کړي دي ده په پښتو او دري ژبو او په بهرنیو ژبو ۱۱ لیکل شوي تالیفونه او اثرونه هم ژباړلي دی اوپه دغه ډول ادبي، فرهنګي اوعلمي ډګرونوکې د ده دلازیاتو بریالیتوبونو هیله کوو چې پرمټ یې دهېواد معنوي پانګه لابډایه شي اوله دې لارې دعلم، فرهنګ او ادب دمینانو له پاره دلاډېرو معنوي، فرهنګي ، ادبي او علمي خدمتونودسرته رسولو جوګه شي

عبدالهادي قریشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ او دودونه

د پښتو ژبې د سترو او وتلو لیکوالانو او شاعرانو درناوي وشو

څېړنوال محمدنبي صلاحي

د افغانستان په قلم ټولنه کې، د شاعر او لیکوال ملکي خزان د شعري او ادبي خدمتونو د درناوي له امله، ددغې ادبي ټولنې دودانۍ په چمن کې، د روان ۱۳۹۳ هـ ل کال، د زمري میاشتې په ۲۶مه نېټه، د یکشنبې په ورځ، د ماذیګر په ۴ بجو یوه پرتمینه ادبي غونډه وشوه په دغې ادبي غونډه کې، دګران هېوادګڼ شمېر لیکوالو، شاعرانو او د ملکي خزان د کورنۍ غړو او دوستانو ژوندي ګډون کړې و په غونډه کې شیرزاد افضلي، د قرآن کریم څو مبارک آیتونه تلاوت کړل محمد نواز حقیقت ساین، راغلو پوهانو ته ستړي مه شې او ښه راغلاست ووایه عبدالهادي قریشي، د ملکي خزان لنډ ژوند لیک ولوست د نجونو د وحدت لیسې مدیرې پرېښې خزان، د شاعر د مېرمنې او د کورنۍ د غړي په حیث خبرې وکړې څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار وینا وکړه، ګل ملاهمکار او محمد اسمعیل اړم خبرې وکړې او هم یې خپل شعرونه ولوستل دادمحمد ناوک، الحاج محمد حسن حسام، نورالحبیب نثار، مینه ناک، نعمت الله پرګنیز، استاد نعمت الله، د ابوذرغفاري لیسې مدیر عبدالمالک ندیم او پاخون په وار سره خبرې وکړې او د خپلو ویناوو په وروستۍ برخه کې یې، شاعر د خپلو

شعرونو په اورولو سره ونازاوه ملکي خزان، د غونډې په پای کې وینا وکړه، د افغانستان قلم ټولنې څخه یې د زړه له کومې منته وکړه خپلې مېرمنې پرېښې خزان او سولې ته یې خپل دوه نوي شعرونه هم دا ورول د غونډې بهیر، د سید جیلاني جلان له خوا مثبت او ګټور وارزول شو د افغانستان قلم ټولنې، د نجونو د وحدت لیسې یو شمېر ښوونکو، ملکي خزان ته د ګلانو ګېډۍ د سوغات په توګه ورکړې، استاد بختاني او ښاغلي اړم د خپلو کتابونو سوغاتونه وړاندې کړل د غونډې په پای کې د حفیظ ګردش له خوا، په زړه پورې سندرې ووېل شوې د ښاغلي ملکي خزان، تر اوسه پورې ۹ د شعرونو ټولګې او یو د کیسو کتاب چاپ شوې دي او دګران هېواد په مطبوعاتو کې ګڼ شمېر چاپ شوي مطالب هم لري څرنګه چې، شاعر په محکمې نور مزل هم لري، له دې امله، د لیکوالو او شاعرانو له خوا یو شمېر سپارښتنې هم وشوې په دغې ادبي غونډه کې دا وړاندیز هم وشو، چې په راتلونکو ادبي غونډو کې دې، د لیکوال د شخصي کرکټر، خوي او عادت په اړه هم، د نږدې دوستانو او اشنایانو له خوا، د یو څه معلوماتو ورکولو په برخه کې وړاندیز وشو

******

د افغانستان د خپلواکۍ ۹۵مه کلیزه ولمانځل شوه

د افغانستان قلم ټولنې، د افغانستان د خپلواکۍ ۹۵مه کلیزه له افغان ادبي بهیر، د مدني ټولنې له یو شمېر نهادونو اوقومي شوراګانو او د سرحدونو او قبایلو چارو له وزارت سره په ګډه، د زمري میاشتې په ۲۸ مه نېټه، د سه شنبې په ورځ، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت دودانۍ په دننه کې، د جوړوونکو ویناوو، هېوادنیو او ملي ترانو او سندرو په اورولو سره ولمانځله په دغې پرتمینه غونډه کې، ګڼو پوهانو جوړوونکې ویناوې وکړې او زمنه وشوه، چې د خپلواکۍ د ورځې پرتمینه لمانځنه، نه یوازې د حکومت، بلکې د ولس کار دی او دا د ټولو افغانانو له ویاړه ډک، ګډ ملکیت دی

« د لمر په تال کې » کتاب، مخ کتنه وشوه

د افغانستان قلم ټولنه کې، د الحاج ډاکټر نعمت ګل پرګنیز د نوي چاپ شوي کتاب« د لمر په تال کې » مخ کتنه، د وږي په ۴مه د سه شنبې په ورځ، ددغې ادبي ټولنې په ودانۍ کې د یو زیات شمېر شاعرانو، ادیبانو او لیکوالانو په ګډون تر سره شوه ددغې ادبي غونډې په پیل کې قاري مصباح الله د قرآن کریم څو مبارک آیتونه تلاوت کړل بیا شاعرعبدالله عاجز په ترنم کې، یو حمد شریف واوراوه د غونډې په سر کې، محمد نواز حقیقت ساین، راغلو برخه والو ته ښه راغلاست او ستړي مه شې ووېله، وروسته ښاغلي پاخون د ډاکټر پرګنیز لنډ ژوندلیک ولوست، له هغه وروسته الحاج محمد حسن حسام پرانستونکې وینا وکړه او د شاعر او لیکوال د شخصي کرکټر په برخه کې یې پر معلوماتو ورکولو ټینګار وکړ بیا عبدالمتین جبارخیل یو شعر ولوست، وروسته څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار یوه هراړخیزه وینا وکړه، بیا شیرزاد افضلي د اړوندې موضوع په اړه، یوه تفصیلي مقاله ولوستله، بیا اغلې مدینې یو شعر ولوست، وروسته د ډاکټر میوند حسن زي زوي شعر ولوست، بیا شمس الدین شمس وینا وکړه، له هغه وروسته شاه سلطان عاکفي خبرې وکړې، بیا جهاني سولیالي د سولې غږ تر عنوان لاندې خپل شعر ولوست، وروسته د پښتو، دري او بلوڅي ژبې یوه بل سرلاري شاعر عبدالقدیر انوري زرنجي یوښکلی شعر ولوست، دادمحمد ناوک یوه تحلیلي او ښایسته تبصره وکړه، حیدر حیران او محمد طاهر پښتونیار شعرونه ووېل، میراحمد یاد انتقادي وینا وکړه خیرمحمد نوري او حزب الله حسن جلال زي هم د ویلو لپاره شعرونه لرل د غونډې په پای کې، د نوي چاپ شوي شعري ټولګې شاعر، یو څو خبرې وکړې او ددغې شعري مجموعې یو دوه غوره شوي شعرونه یې هم ووېل د کونړ ولایت د ملي ارمانونو فرهنګي ټولنې یو ستاینلیک، ښاغلي پرګنیز ته ورکړ ، څېړنپوه عبدالله بختاني او ما محمدنبي صلاحي، هم یو دوه ټوکه کتابونه، د سوغات په توګه ورکړل

******

د ممتاز ارمان او سید اسدالله اسد د هرکلي غونډه

د افغانستان قلم ټولنې، د روان ۱۳۹۳ هـ ل کال د تلې میاشتې په نهمه، د ګران افغانستان دوو جلاوطنو شاعرانو هریوه ممتاز ارمان ته چې اوس په ډنمارک هېواد کې اوسېږي او سید اسدالله اسد ته، چې اوس د بلغاریې په هېواد کې استوګن دي او د یو څه وخت لپاره، خپل پلرنۍ ټاټوبي ته راغلي دي، یوه د ښه راغلاست او هرکلي ادبي غونډه نیولې وه غونډه د بنده له خوا، د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، د غونډې په سر کې، درنو برخه والو، شاعرانو او لیکوالو ته ښه راغلاست او ستړي مه شې ووېل شوه بیا څېړندوي عبدالغفور لېوال خبرې وکړې او یو ښایسته شعر یې هم ولوست له هغه وروسته، عبدالاحمد نیکبین یو دوه دري شعرونه ولوستل، وروسته ډاکټر نعمت ګل پرګنیز، ښاغلي ناوک، ښاغلي سولیالي او مزمل هوتک ویناوې وکړې او یو دوه شعرونه یې هم ولوستل بیا محمد نواز حقیقت (ساین)، ددغو دوو شاعرانو په شاعري باندې خبرې وکړې او یو شعر یې هم ولوست د غونډې په وروستۍ برخه کې، دواړو شاعرانو ممتاز ارمان او سید اسدالله اسد خبرې وکړې او د خپلو منظومو او ازادو شعرونو دري خلور نمونې شعرونه یې هم ولوستل، چې د غونډې دګډون

والو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول د غونډې په پای کې، د افغانستان قلم ټولنې د کتابونو سوغات، دواړو شاعرانو ته ورکړل شو او د علم ګل سحر، د ارګ نن او پرون، نوي چاپ شوي کتاب هم پرې ووېشل شو

*****

سلیمان لایق

د ادب پر هسک اووه څلاندې لسیزې
پرون مې زړه کې یو چا نارې کړې
چې مې کتلې زما وطن د ی
د خداې په حقه خدایي په خلکو
وطن مې زړه دې وطن مې تن د ي
لایق

د افغانستان قلم ټولنې، د استاد شاعر اکاډمیسین سلیمان لایق، د هنر او هڅو د لمانځنې په خاطر، د روان(۱۳۹۳هـ ل کال)، د تلې میاشتې په ۲۶ مه نېټه، د کابل ستار هوټل په دویم پوړ کې، یوه پرتمینه ادبي غونډه جوړه کړې وه، چې د ګران هېوادګڼ شمېر لیکوالو، ادیبوهانو، د شاعر د شعر مینه والو او د کورنۍ غړو پکې ګډون کړي وو دا ادبي غونډه، د څېړونکي مجید ندیم له خوا د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه د غونډې په سرکې، څېړندوي عبدالغفور لېوال، د غونډې د تدویر جرګه ګۍ په استازیتوب، د غونډې برخه والو ته په راغلاست ووایه الحاج محمد حسن حسام، په دغې ادبي غونډه کې، پرانستونکې وینا وکړه، انجنیرې هوسۍ لایق، د اکاډمیسین شاعر د کورنۍ په استازیتوب، د غرزي لایق هغه لیکنه، چې د اکاډمیسین سلیمان لایق دژوند ، شعري او ادبي زیارونو په اړه یې لیکلې وه ، ټکي په ټکي ولوسته پرتو نادري، د لایق د دري شاعرۍ په برخه کې، تفصیلي مقاله واوروله، څېړندوي عبدالغفور لېوال، د لایق د پښتو شاعرۍ او د پښتو شعر په موډرنیزه کولو کې، د لایق د ونډې په اړه مقاله ولوستله او ما څېړنوال محمدنبي صلاحي په سریزو کې د سلیمان لایق د نثر څرنګوالي په باره کې مضمون ولوست ممنون مقصودي د شاعر یو دوه پښتو او دري شعرونه په ډېر ښایسته ډول تمثیل کړل او سهیلا اصغري وردګ، د غونډې د عمومي انانسرۍ او د لایق د یو دوو دري او پښتو شعرونو د ویلو ویاړ لاره او ښاغلي سپند ، خو پارچې موسیقي وړاندې کړه د غونډې په منځ منځ کې، د ملي راډیو تلویزیون د آرشیف له خوا، د اکاډمیسین شاعر، یو دوه هغه پښتو او دري ترانې وغږول شوې، د کومو چې شعرونه دسلیمان لایق له خوا ویل شوي وو ښاغلي لایق، په خپل غږ کې هم، یو څو ټوټې، خپل پښتو او دري شعرونه ولوستل نوموړي شاعر، په دغې ادبي غونډه کې، د افغانستان قلم ټولنې له

ادبي هڅو او د برخه والو له پراخ او ژوندي ګډون څخه، د زړه له کومې منته وکړه او کورودانۍ یې هم ووېله څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار، ددغې ادبي غونډې ارزونه وکړه او د افغانستان قلم ټولنې ادبي هلې ځلې، چې د افغانستان ادیبانو د پرمختګ او غوړېدا لپاره یې کوي، د زړه له کومې وستایلې د غونډې په وروستۍ برخه کې، د یو شمېر ادبي ټولنو او اشخاصو له خوا، ښاغلي لایق ته د ګلانو ګېډۍ هم ورکړل شوې اکاډمیسین لایق، په دریم ټولګي کې، خپل لومړنی پښتو شعر ویلی دی او بوره ۷۲ کاله، یعنې څه باندې اووه لسیزې کېږي، د ادب پر هسک، د نامتو شاعر او لیکوال په عنوان ځلېدلی دی

د لایق د یو شمېر آثارو نومونه دا دي چونغر، بادبان، کېږدۍ، سپرغکې، یادونه درمندونه، ساحل، سندرې په سوبو واتونو کې، شپېلۍ، سمت روشن جاده ها، د اباسین سپېدې، د مریانو سرود(ناچاپ شوي)، عقاب ګمشده(چاپ ته تیار) مردي از کوهستان (چاپ ته تیار) اونور دي

*****

د ډاکتر فیض محمد څلاند قلم او مبارزه

د افغانستان قلم ټولنې، دګران هېواد د شعري، ادبي او فرهنګي استعدادونو د لا هڅونې په لړ کې، دا ځل، د ډاکټر فیض محمد څلاند قلم او مبارزه، تر سرلیک لاندې، د څوان کُل د یوه ژمن لارښود، هڅاند ژورنالیست، لیکوال او شاعر لپاره، ددغې ادبي ټولنې د ودانۍ په چمن کې، د ۱۳۹۳هـ ل کال، د لړم میاشتې په ۲۱نېټه، د چهارشنبې په ورځ، په یوه نیمه بجه، یوه کامیابه ادبي غونډه جوړه کړې وه په نوموړې ادبي غونډه کې، د علومو اکاډمي او کابل پوهنتون یو شمېر څېړونکو او استادانو او پر کابل سربېره، د څینو ولایتونو، لکه پکتیا، پکتیکا، هلمند، ننګرهار او نیمروز له ولایتونو څخه هم، یو شمېر شاعرانو، لیکوالو، افغاني کلتور پالو، د مدني ټولنو استازو او د څلاند د شعر، لیکوالۍ او څېړنو مینه والو او د څوان کُل د لومړۍ کرښې مبارزینو ژوندي ګډون کړي وو غونډه، د دادمحمد ناوک له خوا، د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه په سرکې دمحمد نوازحقیقت(ساین، له خوا، د غونډې برخه والو ته نود هرکلي او ښه راغلاست ووېل شو بیا خالد سادات، په روانه پښتنه مبارزه کې، د څلاند په غورزو پرزو باندې، لنډې، خوښایسته خبرې وکړې او په خپله لنډه وینا کې یې، د هغه څینو نوښتونو ته اشاره وکړه وروسته خوشحال روهي، د افغانستان قلم ټولنې دغه نوښت وستایه، چې په یوه وړ او مستحق مدني فعال، څېړونکي، لارښود او شاعر باندې یې، یوه داسې پرتمینه ادبي غونډه جوړه کړې ده ښاغلي روهي، په انټرنټي او فیسبوکي فعالیتونو کې، د ښاغلي څلاند په پرله پسې او نه ستړې کېدونکي کار او په مدني فعالیتونو کې د څلاند په کردار باندې، یوه ډېره ښه معنالرونکې رڼا واچوله او په څینو حالتونو کې یې، د زیاتې تیزۍ په برخه کې، د یو څه برېک نیولو سپارښتنه هم ورته وکړه وروسته د کابل پوهنتون استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون، د ښاغلي څلاند ګوتڅنډنه اوګوتنم دواړه وستایل او دا دواړه عکس العملونه یې، د افغانستان په کړکېچنو حالاتو کې، د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو، په ډېرې سپین سترګۍ سره د لاسوهنې او د هېوادنیو خاینینو په وړاندې، د څلاند د قلم او مبارزې په ډګر کې، بېخي روا او جایز وبلل ور سره یې، په الفاظو کې، د نرمښت په برخه کې، یو نوکي (ل) ټینګار

او تاکید هم وکړ وروسته، محمد اسمعیل اړم، یو څو طنزیه ټیټرې او یو ډېر اوږد طنزیه شعر ولوست د هلمند له ولایت څخه ښاغلي مبلمه لیکوال همدرد، د ښاغلي څلاند په جوړوونکي استعداد، نیک احساس او پخه اراده باندې، په زړه پورې رڼا واچوله او هغه یې، یوخیر رسوونکي انسان او دګران افغانستان رښتینې بچې وباله محبوب الله خان « زما د ماشومتوب ملګری ډاکټر څلاند» تر عنوان لاندې، د ډاکټر څلاند په ماشومتوب او د دوی تر منځ د دوستي او اشنایي، د ډېر نازک او باریک تار په برخه کې، خپله وینا واوروله سعید زابلي، د څلاند د شعر او شاعرۍ په یو شمېر اړخونو، خوبیو او ښکلاوو باندې خپله مقاله، د درنو اورېدونکو خدمت ته وړاندې کړه عطاالله خان حیران، په خپله لنډه کې وینا کې، د ډاکټر څلاند په باب غونډه، د خپل خان په اړه یوه غونډه وبلله له مېړوټیک نه د راغلي مشر عاطف جان، په خوږو خبرو سره، د

ادبي غونډې د درنو ګډون والو د ذهنونو دروازې نورې هم خلاصې شوې د ښاغلي حمدالله ارباب، هغه شعر، چې څلاند ته یې له ننګرهار نه را استولی و، د ښاغلي تسکین له خوا ولوستل شو د حمدالله ارباب صاحب، په وربښېنو ګوتو او د انځورګرۍ دښکلیو رنګونو په نوښتګرې کښنې سره، د ډاکټر څلاند انځور، د دغې ادبي غونډې دګډون والو، د شاعرانه ذهنونو پردې نخولې او ټولو په یوه غږ سره، د هغه په هېواد پالنې ، کلتورپالنې او پښتنې استعداد پالنې باندې، دده په غیاب کې آفرینونه ویل او ډېر شاباس یې ورکاوه آغامحمد قریشي، له هلمند څخه د را وړې پیغام په پلمه، د درېځ تر سره پورې، خپل خان را ورساوه او د ښاغلي څلاند په حقداره ستاینو، پیرزوینو او صفتونو باندې یې، خوله تپاکې شوه ډاکتر کمال سادات، په وروستي غونډه کې، دغه غونډه، یوه ډېره بریالۍ غونډه وبلله او د افغانستان قلم ټولنه یې، په دغه ډول کارونو سره په وستایله د غونډې د برخه والو له ویناوو څخه داسې څرګندېده ،چې په ښاغلي څلاند کې، دګټو بشري خانګړتیاوو نطفه شته او د هغه په ککره کې، افغانستان د یوه اعلی کیفیت لرونکي انځور په شان، تل شین دی نو څکه، د غونډې مشرانو، د پښتانه د مېړانې او پښتنې کلتور د سمبول نېمرغی ، د هغه پر سر کېښوده او د دغه ککره یې، د یو شمېر منل شویو او وړ ککرو له جملې ، یوه ښه مناسبه او له جوړوونکو فکرونو څخه ډکه، خوانه ککره وبلله او د لاسونو په ترکا او د چکچکو په بدرګه یې، د هغه پر سر کېښوده هغه ده، ښاغلي څلاند، یو وار

بیا، خپلو ملي ارمانونو ته د رسېدلو په منظور، له وسپنې څخه جوړې شوې خپلې، د خپل راتلونکي کرلېچن مزله لپاره، د یوه روڼ او سمور افغانستان په هیله، رنګ کړې هغه ده، په ډېر باور او زمرې زړه سره، د غونډې له تالاره ووت او په دې ډول، ددغې ادبي غونډې د ګډون والو د چکچکو لاسونه، د پروردګار عالم (ج) په لوي دربار کې، د دعا په منظور، یوه لپه شول او د برخه والو، « څه، په مخه دې ښه، له مخې دې رڼا شه» لفظونو، د ډاکټر څلاند پر سر، یو وسپنیز چتر جوړ کړ هغه دي،

روان دي ، د سبا په امید!
هغه دي، روان دي!
هغه دي، مزل کوي!
هغه دي، بل ګام یې واخیست
هغه دي، هغه دي

*****

د نثر د پاچاه درناوي وشو

د افغانستان قلم ټولنې، د علم او ادب د خپراوي ټولنې په همکارۍ، د استاد سعدالدین شپون د ادبي کارنامو درناوي وکړ هغه پرتمینه ادبي غونډه، چې د پښتو نثر پاچاه تر سرلیک لاندې، د روان ۱۳۹۳ کال، د لړم میاشتې په ۲۲ مه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، ددغې ادبي ټولنې د ودانۍ په انګړ کې جوړه شوې وه، د هېواد زیات شمېر ادیبوهانو، فرهنګپالو، استادانو او څېړونکو پکې برخه اخیستې وه دمېرمن بهیر غږې مریم امرخیلې، د غونډې په پیل کې، د قرآن کریم څو مبارک آیتونه تلاوت کړل پیرمحمد کاروان، امیرجان وحید احمدزي، عارف رحیمي، استاد نجیب منلي، استاد اسدالله غضنفر، اکاډمیسین سلیمان لایق، استاد زرین انځور، نورالحبیب نثار، ډاکټر لطیف بهاند ، حبیب الله بختیال او د مېرمن بهیر غږې نعیمې غني په وار سره، د استاد شپون د نثراو شعر پر ښکلاییزو اړخونو خبرې وکړې هغه یې، له خپلې زمانې نه، یو ډېر باخبره لیکوال وباله او دده شعرونه یې، د سره بامار په وړاندې، د قلمي جهاد او مقاومت، ډېرې ښې نمونې وبللې رښتیا هم، د استاد شپون او یو شمېر نورو لویو پښتنو لیکوالو او شاعرانو له برکته، زموږ پښتو ادبیات، په هېواد ، سیمه او نړۍ کې ځلېدلي دي استاد شپون، د هېواد بېژندنې، افغان پېژندنې، د ادبي او شعري پوهې او د لیکوالۍ د مهارتونو، کمالونو او تجربو ستره هستي ده په دې غونډه کې، ډاکټر محمدالله زرمتي، د (یو شپون) تر نامه لاندې، یو کوچنی نظم ولوست او جیلاني جلان یو شعر ووایه محمد نواز حقیقت(ساین)، ددغې ادبي غونډې وروستي ویناوال و له استرالیا نه عبدالهادي هادي، له نیمروز ولایت نه شاه ګل ګلزار، له غزني نه اسدالله بلهار، له المان نه امین بسمل، له پکتیا نه د زرمت ادبي بهیر، د لوګر له ولایت نه شمله ادبي خوځښت، د لغمان ولایت د

قریشو د قلموالې ټولنې، د افغانستان د هنر او کلتوري ودې ټولنې، له پکتیکا څخه، رښتیا ادبي ټولنې، مېرمن کلتوري -ټولنیز بهیر، د علم او ادب د خپراوي ټولنې، زیار فرهنګي ټولنې او د ادبي ټولنو او اشخاصو د مبارکي پیغامونه را رسېدلي وو په دغو پیغامونو کې، ددغې ادبي غونډې د بریا او د افغانستان قلم ټولنې ستاینه شوې وه د غونډې په منځ منځ کې د استاد شپون لنډکۍ خبرې او تبصرې هم، په زړه پورې وې په غونډه کې، د استاد شپون د لیکنو د راټولولو په برخه کې مهمې خبرې وشوې او دغه کار یې، د خوانانو په غاړه ورواچاو صفي صدیقي، د استاد شپون د آثارو د زیاړې ژمنه وکړه، غونډه له سره تریایه بریالۍ وه په دغې ادبي غونډه کې، د یو زیات شمېر پوهانو ګډون، د افغانستان قلم ټولنې د نه ستړې کېدونکو هڅو او د استاد شپون د آثارو او لیکنو د مینه والو د زیاتېدو لامل وپېژندل شو

د سپورت نړۍ

د منګل سلېزې هم افغانستان له ماتې و نه ژغوره

[illegible]

[illegible]

منډو په مجموعي سکور تر لاسه کړه. خو تر دې وروسته د اماراتو لوبغاړو محمد شهزاد او خرم خان مقاومت پیل کړ او د خپلې لوبډلې منډې یې په ۲۵ اوور کې ۱۳۹ ته ورسولې. حمید حسن له لومړي ویکټ وروسته په بالنګ کې دومره ښه و نه ځلېد او په ۸ اوورونو کې یې ۴۴ منډې ورکړې. دغه راز میرویس اشرف هم په ۷٫۳ اوورونو کې ۵۷ منډې ورکړې. د اماراتو ۳ ویکټه په ۳۲ اوور کې د ۱۹۲ په مجموعي سکور دولت خدران هغه مهال واخیسته چې محمد شهزاد یې پر ۷۹ منډو وسوځاوه. څلورمه ویکټه یې هم ژر وغورځېده او محمد نبي د اماراتو توپوهونکي شیمان انور په ۱۰ منډو وسوځاوه. دغه مهال د دوی منډې ۲۰۲ وې. خو د اماراتو لوبډلمشر خرم خان او ال تکره بېټسمن ثاقب علي تر پایه ودرېدل. خرم خان چټکه سلېزه

ووهله او خپله لوبډله یې په ۴۹م اوور کې پر ۶ ویکټو بریالۍ کړه

[illegible]

د کرېکټ ملي لوبډله د فبروري په ۱۰ مه له هند سره لوبه کوي

افغانستان د کرېکټ د نړیوال جام په درشل کې د تمریناتي لوبو په لړ کې د فبروري په لسمه نېټه له هند سره لوبه کوي. د کرېکټ د نړیوال جام لوبې د فبروري په څوارلسمه نېټه په استرالیا او نیوزیلنډ کې په پام کې دي. د نړیوال جام د لوبو په لړ کې به افغانستان خپله لومړنۍ لوبه د فبروري په اتلسمه نېټه د بنګله دېش پر وړاندې وکړي؛ خو د نړیوال جام څوارلس ګډونوالې لوبډلې نړیوال جام ته د چمتووالي د لوبو په درشل کې د ۲۰۱۵ کال د فبروري له اتمې تر دیارلسمې نېټې دوې دوې تمریناتي لوبې هم کوي. د افغانستان د کرېکټ بورډ ویاند فرید هوتک آزادي راډیو ته وویل چې د دې لوبو ګټل هم د افغانستان لپاره مهم دي: «د تمریناتي یا د چمتووالي د لوبو کوم سکېجول (مهالوېش) چې جوړ شوی؛ افغانستان یوه لوبه له هند سره او بله له متحده عربي اماراتو سره لري. دا لوبې مهمې دي، سره له دې چې دا د چمتووالي لوبې دي او هلته له پېچونو او هوا سره بلدیت دی. که افغانستان د هند په څېر لوبډلې ته په تمریناتي لوبو کې ماتې ورکوي؛ نو د هند د کرېکټ کچه او لوبډله له بنګله دېش څخه ډېره پیاوړې ده. نو خامخا افغانستان چې په لومړۍ لوبه کې له بنګله دېش سره مخامخ کېږي؛ نو بنګله دېش به [illegible] لوبې [illegible] کېږي او د نړیوال جام لپاره تیاری لري؛ نو انشاالله افغانستان به نه یوازې د بنګله دېش پر وړاندې [illegible]؛ بلکې په نورو لوبو کې له [illegible]

هلته د افغانستان تر ټاکې لاندې وي.» ښاغلي هوتک هیله من دی چې د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډله به په نړیوال جام کې خپله لومړۍ لوبه وګټي ځکه چې افغانستان له دې مخکې په آسیايي لوبو کې هم بنګله دېش مات کړی دی: «د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې په اېشیا کپ- آسیايي لوبو کې چې د لومړي ځل لپاره برخه اخیستې وه؛ بنګله دېش ته یې ماتې ورکړې وه او د افغانستان د کرېکټ بورډ د ملي لوبډلې لپاره د تمریناتو یو پروګرام جوړ کړ چې د هغه له مخې یې خپلې نورې پیاوړې لوبډلو سره به هم د پام وړ لاس ته راوړنې ولري.» په نړیوال جام کې د څوارلسو ګډونوالو د کرېکټ ملي لیموته برخه اخلي چې افغانستان هم په دې ډله کې شامل دی. د نړیوال جام د لوبو مهالوېش مخکې اعلان شوی دی؛ خو د کرېکټ نړیوالې شورا د تمریناتي یا د چمتووالي د لوبو مهالوېش [illegible] ورځ اعلان کړ. د مهالوېش له مخې افغانستان به خپله لومړۍ لوبه د فبروري په لسمه د هند پر وړاندې او دوهمه د فبروري په ۱۲مه نېټه د متحده عربي اماراتو پر وړاندې وکړي.

نبي ۱۰۰۰ منډو ته رسېدونکی لومړی افغان توپوهونکی

[illegible]

توپوهنې ته راځي، نو عموماً د پای اوورونه وي. دا چې له نوموړي د پای په اوورونو کې د چټکې لوبې تمه کېږي نو په دې اساس د ده د ۲۵ منډو په منځنۍ

نبي په منځنۍ کچه په خپل هر وار بېټنګ کې څه دپاسه ۲۵ منډې کړې دي

کچه بېټسنګ د ډېر ارزښت وړ دی. د ۲۰۱۵ کال پنځوس اووریز نړیوال جام سیالیو ته د افغانستان ملي ټیم په لار موندنه کې هم نوموړي ډېر مهم رول لوبولی دی. په یو ځل بېټنګ کې یې تر ټولو ډېرې منډې ۷۷ دي چې د عربي متحده اماراتو پر وړاندې یې په یوه لوبه کې کړې دي. په مالیزیا کې شوې دغه لوبه افغانستان د ۷۰ منډو په توپیر ګټلې وه چې نبي یې د منډو تر څنګ په بالنګ هم کړی و او په ۶ اوورونو کې یې یوازې د ۱۹ منډو په بدل کې ۱ ویکټه اخیستې وه. په بېټنګ او بالنګ دواړو برخو کې د ښه ځلېدلو په خاطر نوموړی د دغې لوبې تر ټولو غوره لوبغاړی ګڼل شوی و. د بېټنګ تر څنګ نوموړی په یو ورځنیو لوبو کې د ملي لوبډلې لپاره د بالنګ په برخه کې هم ډېر ښه ځلېدلی دی. تر اوسه یې ۳۵ ویکټې اخیستې او په هر اوور کې یې په منځنۍ کچه یوازې لس اشاریه څلور منډې ورکړې دي. نبي په یوه لوبه کې تر ټولو ښه بالنګ په ۲۰۱۱ کال کې د کاناډا لوبډلې پر وړاندې کړی دی. [illegible] نهه اشاریه پنځو اوورونو کې یوازې د ۳۱ منډو په بدل کې ۴ ویکټې واخیستې. د

د ۲۰۱۵ کال پنځوس اووریز نړیوال جام سیالیو ته د افغانستان ملي ټیم په لار موندنه کې هم نبي ډېر مهم رول لوبولی دی

ډېرو نورو لوبو په څېر په دې لوبه کې هم نوموړي د پام وړ بېټنګ وکړ او پر ۵۹ توپونو یې ۵۸ منډې جوړې کړې. دغه لوبه افغانستان په ۲ ویکټو ګټلې وه.

استرالیايي لوبغاړی، چې په سر لګېدلي ومړ شو

[illegible]

[illegible]

نیوزیلنډ په درېیم ټیسټ کې پاکستان ته لویه ماتې ورکړه

د پاکستان او نیوزیلنډ تر منځ په متحده عربي اماراتو کې د درېیمې ټیسټ لوبې [illegible] په درېیمه لوبه کې نیوزیلنډ د لوبې پر څلورمه ورځ پاکستان ته د یو انګز او ۸۰ منډو سختې ماتې ورکړه. په دې ترتیب نیوزیلنډ د پاکستان پر وړاندې د ټیسټ لوبو دغه لړۍ ۱-۱ برابره کړه. لومړۍ ټیسټ پاکستان ګټلې و او دوهم برابر (ډرا) شوی و. د درېیمې ورځې د لوبې تر پایه نیوزیلنډ ۶۳۷ منډې کړې وې او ۷ لوبغاړي یې سوځېدلي و. دوی له پاکستان نه دا مهال ۲۸۶ منډې مخکې وو. باید دې وي چې پاکستان په خپل لومړي ځل بېټنګ کې یوازې ۳۵۱ منډې کړې وې. په دې څلورمه ورځ د نیوزیلنډ لوبغاړي د استرالیا د توپوهونکي فیلیپ هیوز د ناڅاپي مړینې له کبله ډېر احساساتي و. نیوزیلنډ په ټولو ۱۰ لوبغاړو ۶۹۰ منډې وکړې او له پاکستان نه ۳۳۹ منډې مخکې شول. د منډو دومره ستر توپیر ته په پام سره پاکستان له ډېرو ستونزو سره مخامخ و او لا له وړاندې له یوې لويې ماتې سره مخامخ وو. د نیوزیلنډ له لوري لوبډلمشر برېنډن مککلم په زړه پورې غبرګه سلېزه ووهله او یوازې پر ۱۸۸ توپونو یې د ۱۱ شپږیزو او ۲۱ څلوریزو په مټ ۲۰۲ منډې وکړې. د مککلم چټکې او زړه وري لوبې د پاکستان ټول بالران تهلي او ستړي کړل. نوموړي دومره چټکه لوبه وکړه چې د پاکستان د بریا چانس یې تر ډېره صفر کړ او تر څنګ یې د خپلې لوبډلې د ګټې چانسونه روښانه کړل. د ده تر څنګ د لوبډلې ځوان بېټسمین کېن ویلیمسن له غبرګې سلېزې یوازې ۸ منډې وروسته وسوځېد او پر ۲۴۴ توپونو یې ۱۹۲ منډې وکړې. راس ټېلر، کوري انډرسن، مارک کریګ او ټیم ساوتي هم پنځوسیزې وکړې او د نیوزیلنډ په ستره ۶۹۰ منډو کې یې خپل رول ولوباوه. د پاکستان له لوري راحت علي په ۹۹ منډو ۴ او یاسر د ۱۹۳ منډو په بدل کې ۳ ویکټې واخیستې. په ځواب کې د پاکستان توپوهونکو د نیوزیلنډ له خوا د غره په څېر د منډو تعقیب دننه درلوده ځکه دوی له سیالې لوبډلې یو انګز او ۳۳۹ منډې شاته وو. د پاکستان بېټسمینان د دومره ستونزمن هدف او خپلې ستړیا ځواب و نه شو ویلی او له پیله له مشکلاتو سره مخامخ شول. دوی یوازې پر ۲۳ منډو ۵ ویکټې له لاسه ورکړې. یونس خان په لومړي توپ په صفر، شان مسعود پر ۲ او اظهر علي پر ۲ منډو وسوځېدل. اسد شفیق او سرفراز احمد یو څه مقاومت وکړ خو پاکستان تر ۱۲۶ منډو ۷ ویکټې له لاسه ورکړې. د نیوزیلنډ له خوا ټرېنټ بولټ ۲، مارک کریګ ۳ او ایش سوډهي ۲ ویکټې واخیستې. د پاکستان ټوله لوبډله پر ۲۵۹ منډو وسوځېده چې تر ټولو ډېرې یې د اسد شفیق ۱۳۷ منډې وې. دغه راز پاکستان دغه ټیسټ لوبه نیوزیلنډ ته د یو انګز او ۸۰ منډو په ستر توپیر وبایلله

په څلورمه ورځ د نیوزیلنډ لوبغاړي د استرالیا د توپوهونکي فیلیپ هیوز د ناڅاپي مړینې له کبله ډېر احساساتي وو

ویلیمسن له غبرګې سلېزې یوازې ۸ منډې وروسته وسوځېد او پر ۲۴۴ توپونو یې ۱۹۲ منډې وکړې

د کرېکټ نړیوال جام د تمریناتي لوبو مهالوېش اعلان شو

[illegible]

[illegible]

اقتصاد او سوداګري

نگذارید مردم نا امید شوند

نجیبه مرام

از دو ماه بدینسو که حکومت وحدت ملی ایجاد گردیده است مردم به آینده خود و کشور شان امید بستند از آغاز کار حکومت وحدت ملی بخاطر بهبود وضعیت مردم و آینده آنها و افغانستان وعده های جدی داده شد. حکومت جدید وعده داد که امنیت را تامین میکند علیه فساد جداً مبارزه میکند و مفسدین را به پنجه قانون میسپارد، کار را به اهل کار میدهد، به حکومت دارای خوب اقدام مینماید. و به هر اقدامی که فاصله مردم با حکومت را از بین ببرد متوسل می شود درست زمانیکه قضیه کابلبانک به بررسی گرفته شد مردم به تعهدات حکومت باورمند شدند و امیدوار شدند که به تمام عرصه های وعده داده شده رسیده گی میشود در این

روز ها دیده میشود که مردم امنیت ندارند و در هیچ جا مصئون نیستند وقتی از منزل برای انجام وظیفه بیرون می شویم به برگشت مصئون به منزل بی باور هستیم هر لحظه انفجار و انتحار خشونت علیه زنان و دختران بخصوص تجاوز های گروهی بالای اطفال مردم را به نا باوری باز میگرداند. صعود قیم و بازار لرزان مردم را بخصوص مامورین را که با معاش بخور و نمیر زنده گی روزمره را سپری مینمایند پریشان نموده است اگر در آخر ماه معاش اجرا نشود تصور شود که مامور به این وضعیت چطور میتواند زنده بماند از سوی هم سر درگمی حکومت وحدت ملی در مورد امنیت سوال در اینجا ست تا چه زمانی مردم صبر داشته باشند؟ چه

وقت امنیت تامین میشود؟ چه وقت اقتصاد مردم خوب میشود؟ چه وقت زنان و دختران از خشونت و شکنجه رهایی پیدا میکنند؟ این همه سوالات سال ها است که ذهن مردم افغانستان را ازار میدهد. چه وقت در ادارات بدون رشوت کار ها انجام میگردد؟ مردم از حکومت جدید از اینکه پیمان امنیتی را با کشور بزرگ امریکا امضا کرد توقع دارند که در قدم اول امنیت شان تامین گردد در گام دوم این حامی قدرت مند برای دفع حملات از خارج مرز ها در کنار مردم افغانستان بایستد. زمانیکه محمد حنیف اتمر مشاور امنیت ملی در روز های اول حکومت وحدت ملی پیمان های امنیتی را با امریکا وناتو امضا کرد و بعداً در خانه ملت توسط نماینده گان

مردم افغانستان تصویب شد مردم از آن استقبال گردم نمودند. زیرا مردم تشنه صلح اند از حکومت و امریکا میخواهند که با امضاء این پیمان امنیت را در افغانستان تامین نماید و مردم را حمایت کند تا دیگر اماج حملات انتحاری نگردند که یک افغانستان توانمند و خود کفا داشته باشیم. دري صورت عدم امنیت به این هدف مقدس خود نمیتوانیم برسیم هردو زعیم آرا مردم را گرامی داشته به امید مردم برای آینده شان ارج بگذارند از قدرت طلبی، قوم پرستی زبان پرستی ومنفعت طلبی صرف نظر نمایند با تعیین نماینده های خدا دوست و مردم دوست تعهد شانرا جامه عمل بپوشانند تا یک حکومت قدرتمند که جز مردم افغانستان و منافع ملی به هیچ چیز دیگر نه اندیشند داشته باشیم

صلح وثبات سرتاسری در کشور نیاز مبرم همه مردم افغانستان است

کشورما با سپری نمودن بیشتر ازسه دهه جنگ های داخلی وتنظیمی وناامنی ها ونابسامانی های متعدد خسارات زیاد جانی ومالی را متحمل گردیده است و مردم ازچنین وضعیت کاملاً خسته شده اند، با ایجاد حکومت موقت به رهبری محترم حامدکرزی درطی سیزده سال گذشته ما شاهد هستیم که در عرصه های تعلیم وتربیه، بازسازی ونوسازی، ودربخش های اجتماعی فرهنگی، اقتصادی سیاسی وصحی پیشرفت های چشمگیری صورت گرفته است دراین اواخر بعدازحل وفصل چالش های انتخاباتی که به پایان رسید وانتقال حکومت به گونه مسالمت آمیز از سوی محترم حامدکرزی رئیس جمهور اسبق جمهوری اسلامی افغانستان به حکومت وحدت ملی صورت گرفت وباآمدن حکومت وحدت ملی به رهبری محترم محمداشرف غنی رئیس جمهوری

افغانستان وعبدالله عبدالله رئیس اجرائیوی مردم ما بیشتر امیدوار شدند که به یاری خداوند متعال درکشور ماصلح وآرامش سرتاسری تامین خواهد شد و مردم بیچاره و رنج کشیده ما درفضای صلح وثبات عاری از خشونت ودهشت به زندگی محوله خویش ادامه خواهد داد اما متاسفانه قابل یاد آوری است که دشمنان صلح وآسایش مردم افغانستان بخصوص کشورهای همسایه همواره تلاش میورزند تا توسط غلامان حلقه به گوش خویش دهشت و وحشت را در دل های هموطنان ما متولی سازند و اوضاع کشور ما را ناامن ساخته وفضایش را به خاک و دود بکشاند خوشبختانه نیرو های امنیتی کشور ما درطی بیشتر از یک دهه، تجهیز وتمویل شده اند ودرس های مسلکی را آموختند وفرزندان صدیق این مرز وبوم با احساسات گرم وطن پرستی و شجاعت ازتمامیت

ارضی کشور ومنافع ملی ما در مقابل آنان قرار داشته ونخواهند گذاشت که دیگر به اعمال شوم وخصمانه شان نایل آیند. در اخیر خواست ما ازآنعده افراد و اشخاص که به دستور بیگانگان می چرخند وازابشخورآنان تغذیه می شوند، اینست که دیگر فریب ونیرنگ دشمنان قسم خورده افغانستان را نخورده ازجنگ، جدال و برادرکشی دست کشیده وبه پروسه صلح ملی بپیوندند ودرکنار خانواده هایشان به زندگی ابرومندانه خویش بپردازند وازطریق کار و بار حلال رزق پاک را ابدست آورده و برای فرزندان شان بخورانند که در زمینه مصدر خدمت به مردم ومیهن خویش شوند. تا باشد که وطن ما همانند کشور های پیشرفته در عرصه های مختلف بیشتر ازاین پیشرفت وترقی نماید

فیصل ((شریفی))

ناټو به د افغان ځواکونو تمويلولو ته ...

چې د خپلې وطن دوستي دنده چې له خپل هېواده دفاع او ساتنه او له ګواښونو ځخه د لرې، خوندي کول دي په بشپړه توګه پر ځېله غاړه واخلي. جمهور رييس غني زيانه کړه د ۲۰۱۵ ميلادي کال د جنوري مياشتې په لومړي نيټه مورد د افغانستان او ناټو سازمان ترمنځ د همکاريو داسې يو نوې فصل پيلوو کوم چې د زياتو قربانيو او ګټېو مسووليتونو پر مټ ترلاسه شوي دي. زه، د ناټو سازمان د هغو خه د پاسه ۳۴۰۰ ځواکونو قدرداني کوم چې په افغانستان کې يې خپلې قرباني ګاللي دي. د افغانستان جمهور رييس ووېل چې له ۳۰ زرو نه زيات بهرني سرتېري د ناټو سازمان په دغه ماموريت کې ټپيان او څه د پاسه سلګونه زره نور يې د دغې جګړې قرباني شوي دي. زموږ خلکو هم په دغې جګړه کې پراخې قرباني ورکړې، خو هغه څه چې موږ له يو بل سره يو موټي کوي هغه د افغانستان او د ناټو سازمان دوه اړخيزې ګټې دي. جمهور رييس غني زيانه کړه. افغانستان د تروريزم پر ضد د مبارزې په لومړۍ کرښه کې قرار لري، دغه مبارزه په دې معنا ده چې د افغانستان پر وړاندې د ناټو سازمان ژمن دی او دا مبارزه په دې معنا ده چې اروپا او شمالي امريکا له ګواښونو ځخه

ژغورل شوي ده. موږ هيله من يو چې د افغانستان او ناټو ترمنځ د همکاريو دغه نوي فصل به زموږ خلکو ته لنات او سوکالي او نړۍ ته امنيت ور په برخه کړي. محمد اشرف غني د ناټو سازمان له سکرتر جنرال ساغلي ينس ستولټنبرګ څخه د مننې په ترڅ کې ووېل، موږ ته دا د خوښې ځای دی چې دلته حضور لرو او غواړم ووايم چې د افغانستان د ملي يووالي حکومت د افغان ولس د اکثريت وګړو استازيتوب کوي او د افغانستان خلکو د خپلو منتخبو استازو له لارې د ناټو او افغانستان ترمنځ د دغې همکارۍ په اړه خپله خوښي او اجماع څرګنده کړې ده. همدا راز موږ غواړو زيات د يادې همکارۍ د عملي کولو په نامه يو د حکومت اجرائيه رييس ډاکټر عبدالله په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت په هېواد کې يو نوي پړاو وباله، وې ويل د افغانستان د جمهور رييس له خوا د افغانستان ـ امريکا او افغانستان ـ ناټو ترمنځ د تړونونو توشيح کولو اوس په افغانستان کې د ناټو سازمان د ځواکونو د دوامدار شتون لپاره قانوني چوکاټ برابر کړ. ډاکټر عبد الله عبدالله په افغانستان کې د لنات د اېنګښت او بسپ

جوړوني په برخه کې د ناټو سازمان او د دغه سازمان د همکارو هېوادونو له همکاريو څخه مننه وکړه، وې ويل چې د همدغو همکاريو د ملاتړ په نتيجه کې د ناټو سازمان او نړېوالو ټولنه له افغانستان سره د يو متفاوت هېواد په توګه چې اوس د ترهګرو مرکز نه دی، مرسته کوي. عبدالله عبدالله ووېل اوس ترهګر د دې توان نه لري چې د سپټمبر د ۱۱ مې لېټي په څېر نور بريدونه ترسره کړي. خو موږ د ناټو سازمان او نړېوالې ټولنې دوامدارو مرستو ته اړتيا لرو. د حکومت اجرائيه رييس زيانه کړه د افغانستان له نوي حکومت څخه چې تاسو د همکارۍ کومه نوې روحيه وينئ چې په نتيجه کې يې نه يوازې د افغانستان لپاره، بلکې د سيمې د وضعيت د بدلولو او د نړېوالې سولې په خاطر هم د

همکارۍ زمينه برابره شوي ده. د ناټو سکرتر جنرال د افغانستان او ناټو ترمنځ همکاريو ته د اشارې په ترڅ کې ووېل د ناټو سازمان په مرکې کې د افغانستان د جمهور رييس محمد اشرف غني او د اجرائيه رييس عبدالله عبدالله شتون د ناټو سازمان او افغانستان ترمنځ د پياوړې همکارۍ ښکارندوی دی. ده ووېل چې په څه د پاسه يوه لسيزه کې د ناټو سازمان او د هغه غړي او همکار هېوادونه د افغان ولس ترڅنګ او له هغوی سره اوږه په اوږه دريدلي

چې افغانستان د نړېوالو ترهګرو له خوندي پټن ځای څخه په داسې يوه هېواد بدل کړي چې په نړۍ کې سرلوړی او اوسې ساغلي ينس ستولټنبرګ د ملي وحدت د حکومت په جوړولو کې د جمهور رييس غني او ډاکټر عبدالله عبدالله رهبري وستايله، وې ويل چې ناټو به د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ځواکمنولو په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي

د لندن او ناتو غونډې او له ...

د جمهورو رئيسانو، صدراعظمانو اونړيوال بانک، نړيوال وجهي صندوق او د آسيا دپراختيا بانک په څېر نړيوالو ټولنو اوسازمانونو داستازو په ګډون دلندن په ښار کې جوړشي، دا غونډه وکړی چې له ۲۰۱۴ زېږديز کال څخه وروسته دې هم دافغانستان داقتصادي او امنيتي ثبات لپاره له افغانستان سره دنوکيو او شېکاکو په تيرو اقتصادي او امنيتي نړيوالو غونډو کې پرخپلو ژمنو سربېره

له افغانستان سره دنورو مرستو اعلان هم وکړي اوبه مرسته دي دافغانستان داقتصادي او امنيتي چارو دپرمختګ له پاره زمينه برابره کړي اوبه دي برخه کې دي پرخپلو ښو ودروي نوهله به يوازې په افغانستان کې دخلکو دسولې ستراوماني پوره شي اوله پوره امنيت څخه به برخمن

شي، بلکې اقتصادي چارې به يې هم پرمخ ولاړې شي او دکلونو کلونو جګړه ځپلو افغانانو دفقر، بېکارۍ اوبې کورۍ په څېر ستونزو اوسدمونو ته به تېرای ټکی کېږدي، نه هوسا اوسيا ژوندانه څخه به يې برخمن کړي او دپرمختګ اوترقۍ لورو څوکو ته به يې ورسوي

د ژورناليستانو له صندوق

د صندوق حساب ته ليږدوي. د صندوق دچوړولو په ورځ دجمهوري رياست دنوموړي مرستيال استازي له دغه صندوق سره دنو زرو امريکايي ډالرو مرستې ژمنه وکړه او يونس ملي سوداګرنورالله داودزي له دغه صندوق سره دخپل سودونو او مساعدو مرسته وکړه

باختر

به تامین امنیت در کشور رسیده گی ...

من به شما اطمینان میدهم که به مسأله تامین امنیت در کشور رسیده گی می کنیم و به تعهداتی که به مردم قندهر داده ام پابندم و یکایک آنان را عملی خواهم کرد سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری خاطر نشان کرد که به بد امنی، قاچاق، چور وچپاول معادن و دارایی های عامه پایان میدهیم و مطمین باشید که نهاد های امنیتی کشور تقویت می شوند و آن گاه به اربکی و پولیس محلی دیگر نیازی نخواهیم داشت

باختر

له ناروغانو سره د دولتي چارواکو او ملي ...

مبوې دغاښونو برسونه او کريم دندان ويېرل اوټيمانو ته يې دسوغات په ډول ورولېرل، چې دجمهور رئيس دلومړي مرستيال ددغې انساني مرستې له امله خلک ډېر زيات خوشاله شول. همدارنګه دجمهور رئيس له خوا دليندۍ دمياشتې په ۶ مه دپنجشنبې په

ورځ دنوموړو ټيمانو له هرسوه سره د پنځوس پنځوس زره افغانيو اودشهيدانو له کورنيو سره سل ،سل زره افغانۍ مرسته وشوه چې دخلکو دخوښۍ لامل شوه دا چې دهېواد، ددښمنانو د ځانمرګو

بريدونو اودموټر بم چاودنو لړۍ په زورکې روانه ده اودنوي پېښو دشهيدانو او ټپيانو شمېر ورځ په ورځ مخ په زياتېدو ښکاري خلک له يوې خوا ، لـه دولتي چارواکو څخه غواړي چې دهغې دردوونکي پېښې

دشهيدانو دکورنيو او ټپيانو مرستې ته ډېر ژر ورودانګي اوټپيانو دليږد او درملنې په برخه کې خپله انساني دنده سرته ورسوي اوترڅنګ وسې پوري دمرستې لاس وراوږد کړي. همدارنګه دهېواد لـه ملي سوداګرو اوپانګو شتمنو خلکو څخه هيله کېږي چې ځپلو ټپيانو ته دوينو پرورکولو

سربېره له مادي مرستې څخه هم ډډه ونه کړي او هم په دې برخه کې د هېواد دينو رسنيو او ديني عالمانو له خوا، به جوماتونو کې دلمانځه ناداګونو په وخت کې د ټپيانو اودشهيدانو له کورنيو سره دمرستې لپاره په دوامداره ډول تبليغ وشي

افغان اعلانات

ریاست گمرک کابل درنظر دارد به تعداد 13 قلم اموال مختلف النوع مجهولی خویش را درهنگر های ریاست گمرک کابل موجود میباشد در محضر هیئات مختلط لیلام نماید اشخاص که خواهش خریداری آنرا داشته باشند میتوانند بتاریخ 1393/9/19 روز چهار شنبه ساعت ده بجه جهت اشتراک لیلام در ریاست گمرک کابل حاضر باشند تضمین اخذ میگردد 5152

◈ ◈ ◈ ◈

جواز تجارتی 13002 به اسم شرکت تاجی بابا لمتد مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

بکبات غرفه تیپک سمت شرقی داخل پارک وزیر اکبر خان به اجاره داده میشود اشخاص افراد وشرکت های که خواهش قرارداد آنرا داشته باشند افرهای خویش را طور سربسته بریاست خدمات کلتوری واقع محمد جان خان وات سپرده شرطنامه را اخذ و مطالعه نموده وخود شان ازنشراعلان الی بیست ویک روز غرض افرگشائی مراجعه نمایند تامینات اخذ میگردد 5150

◈ ◈ ◈ ◈

به اطلاع عموم مالکین غرفه جات فعال وغیر فعال مارکیت بازار روز افغان بوانیتید واقع مکرویان سوم رسانیده میشود که اکثر ازنشراعلان الی بیست روز غرض تصفیه با فیات وفعال نمودن غرفه جات شان به ناحیه نهم حاضر نشوند غرفه جات شان بلا وبه اشخاص دیگر توزیع میگردد انگاه حق شکایت را نخواهند داشت 5151

◈ ◈ ◈ ◈

جواز نمبر D-28754 به اسم شرکت ساختمانی انجنیری وسرک سازی حلیم امین مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

مخابرات وتکنالوژی معلوماتی به تعداد 32 قلم اجناس ابرسانی ومرکزگرمی ضرورت دارد موسسات دولتی اشخاص وشرکت های

واجد شرایط که خواهش رسانیدن آنرا طور قرارداد داشته باشند میتوانند درخواست های خویش را ازنشراعلان الی بیست ویک روز کاری به مدیریت عمومی تهیه اجناس داخلی منزل چهاردهم تعمیر 18 منزله وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی بسپارند. تاریخ زمان ومحل دقیق افرگشائی درج شرطنامه میباشد شرطنامه ومشخصات را دربدل مبلغ 500 افغانی دریافت نموده پول تضمین افر در روز افرگشائی اخذ میگردد 5140

◈ ◈ ◈ ◈

اداره عمومی جیودیزی وکارتوگرافی درسال 1394 مالی به مقدار شصت هزار لیتر تیل پطرول وچهل هزار لیتر تیل دیزل برای وسایط و مرکز گرمی ضرورت دارد موسسات دولتی وشرکت های خصوصی که خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویش را به آمریت تهیه وتدارکات ان اداره واقع پشتونستان وات عقب وزارت معادن

وپطرولیم بسپارند شرطنامه ومشخصات را اخذ وخود شان ازنشراعلان الی بیست ویک روز با افر های سربسته غرض اشتراک درجلسه افرگشائی حاضر گردند تضمین اخذ میگردد 5139

◈ ◈ ◈ ◈

قرارداد نمبر 1393-MOD-227-22408 ایجاد ارتباط شبکه ستراتیژیک معلوماتی کشف واستخبارات ضرورت سال 1393 ریاست مخابره ستردرستیز وزارت دفاع ملی به قیمت مجموعی مبلغ 12469000 افغانی با شرکت خدمات لوژستیکی پاک لنتر منظور گردیده است درصورتی که شرکت ها ومراجع ملاحظه داشته باشند میتوانند ازتاریخ

نشراعلان الی دوهفته ریاست اکمال وخریداری وزارت دفاع ملی را درجریان قرار دهد 5137

◈ ◈ ◈ ◈

قرارداد 22603 دوقلم چوب سوخت بخاری ضرورت 15 روز سال مالی سال 1393 وربع اول سال مالی 1394؛ قطعات وجزوتامهای مرکزی اردوی ملی به قیمت مجموعی مبلغ 37928841 به شرکت های تجارتی وحید عزیز عزیزی وسور افضل منظور گردیده است درصورتی که شرکت ها ومراجع ملاحظه داشته باشند میتوانند ازتاریخ نشراعلان الی دوهفته ریاست اکمال وخریداری وزارت دفاع ملی را درجریان قرار دهد 5136

◈ ◈ ◈ ◈

یک جلد پاسپورت سیاحتی نمبر 000138992 به اسم فرهاد ولی مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

اداره مرکزی احصائیه قرارداد به کرایه گرفتن ۲۴ عراده وسایط نقلیه مورد ضرورت حمل و نقل کارکنان خویش را از اداره الی محل بودو باش به اداره برای سال مالی ۱۳۹۴ به داوطلبی میگذارد. از تمام داوطلبان واجد شرایط تقاضا بعمل می آید که درخواست های خویش را جهت اخذ شرطنامه ازنشر اعلان الی بیست ویک روز کاری به آمریت تهیه و تدارکات منزل اول واقع چهار راهی ارتقا به اداره مستقل ارگان های محلی بسپارند شرطنامه دربدل ۵۰۰ افغانی توزیع میگردد

◈ ◈ ◈ ◈

وزارت دفاع ملی درنظر دارد یک عراده واسطه نوع مازدا تیز رفتار موتر 92 را طور لیلام در ساحه قرارگاه وزارت دفاع ملی در

بدل پول نقد مبلغ 108000 لیلام نماید اشخاص وافرادی که خواهش مزایده آنرا داشته باشند بتاریخ 1393/9/15 به قرارگاه وزارت دفاع ملی مراجعه نمایند حق الاشتراک مبلغ 30 فیصد تضمین از قیمت فروش جنس نقداً اخذ میگردد 5259

◈ ◈ ◈ ◈

شرکت تجارتی ذکریا مشغل موضوع تدارکات 25369 کیلو گاز مایع ضرورت تسخین شعبات مرکز وزارت زراعت آبیاری ومالداری را به قیمت فی کیلو مبلغ 59.5 وبه قیمت مجموعی مبلغ 1509455.5 افغانی در اثر جلسه روش تدارکاتی داوطلبی باز افرهای سربسته و ارزیابی مالی فنی وتخنیکی وفیصله هیئات تدارکات وحکم شماره 3981 مورخ 1393/9/5 مقام وزارت برنده گردیده وهمرایش عقد قرارداد صورت میگیرد موضوع جهت آگاهی عامه وشرکت های اشتراک کننده رسانیده شد 5196

◈ ◈ ◈ ◈

یک جلد پاسپورت نمبر OA-548132 به اسم غلام دستگیر ولد ولی محمد مفقود گردیده ازاعتبار ساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

یک عدد کارت اسلحه نمبر 5522 تی تی به اسم محمد مایل ولد محمد قاسم مفقود گردیده ازاعتبار ساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

پاسپورت نمبر OA-1949461 به اسم مایل ولد محمد قاسم مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

تهجانی بازار قره باغ ولایت کابل درسال مالی 1394 از اول سال مالی الی اخیر سال مالی 1394 برای مدت یکسال به اجاره داده

میشود داوطلبان درخواست های خویش را به شاروالی قره باغ سپرده وخود شان ازنشراعلان الی بیست ویک روز کاری جهت داوطلبی به دفتر شاروالی قره باغ حاضر باشند شرطنامه را ملاحظه نمایند تضمین اخذ میگردد 5182

◈ ◈ ◈ ◈

ریاست کار وعملیات وزارت فواید عامه به مقدار 40000 لیتر تیل دیزل ومقدار 1000 لیتر تیل پطرول ضرورت دارد

شماره دعوت نامه MOPW/25/NCB

وزارت فواید عامه ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت بعمل میاورد تا در پروسه داوطلبی باز داخلی دو قلم تیل اشتراک نموده افر های سربسته خویش را مطابق شرطنامه به لسان دری که در مقابل پرداخت مبلغ 1000 افغانی پول غیر قابل برگشت بدست میاورند طبق قانون وطرزالعمل تدارکات عامه بعد ازنشراعلان الی بیست ویک روز ارایه نمایند. وصول شرطنامه تسلیمی افرها الی ساعت ده بجه قبل ازظهر که اخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی افرها میباشد صورت میگیرد افرهای دیررسیده والکترنی پذیرفته نمیشود تضمین افر مبلغ 133250 افغانی گرنتی بانک ویول نقد اخذ میگردد شرایط اهلیت داشتن جواز تجربه

کاری وسرمایه میباشد.

ادرس مدیریت داوطلبی اجناس مدیریت عمومی داوطلبی اجناس وپروژه جات آمریت قرارداد ها ریاست تدارکات وزارت فواید عامه واقع مکرویان اول بلاک دوم منزل دوم 5181

◈ ◈ ◈ ◈

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وجیه الله بنت عبدالجلیل مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

موضوع نسبتی هریک عبدالخالق ولد ولی محمد رئیس شرکت المصطفی لاهور خان رئیس شرکت سکندر فراز حاجی سردار ولد محمد صادق رئیس شرکت صدیق صادق، شیراحمد صافی معاون شرکت رسا گلوبل، احمل ولد صوب رئیس شرکت عرفات ومیروس ولد عبدالقیوم

رئیس شرکت ابراهیم خلیل تحت بررسی ریاست محکمه ابتدائیه رسیدگی به جرایم فساد اداری قرار دارد که با وجود جلب های متعدد به محکمه حاضر نگردیده اند بنا به اطلاع ایشان رسانیده میشود که هرگاه ازنشراعلان الی پانزده روز به محکمه حاضر نگردند درغیاب شان طبق هدایت ماده 209 قانون اجراات جزائی فیصله صادر میگردد وانگاه حق شکایت را نخواهند داشت 5176

◈ ◈ ◈ ◈

بخش معافیت کلتوری لوگر غرض سرپرستان مراکز صحی ونسوانی های مربوطه خود یک عراده موتر کرولا قراردادی سر از اول جدی 1393 الی 30 قوس 1394 برای مدت یکسال قرارداد مینماید اشخاصی که خواهش قرارداد آنرا داشته باشند ازنشراعلان الی بیست ویک روز به مدیریت خدمات ریاست صحت عامه لوگر مراجعه نماید شرطنامه را ملاحظه تضمین اخذ میگردد 5174

◈ ◈ ◈ ◈

نمبر تشخیصیه مالیاتی به اسم شرکت فردین بهاری لمتد مفقود گردیده ازاعتبارساقط است

◈ ◈ ◈ ◈

معینیت سواد اموزی از اول جدی سال جاری 1393 الی اول جدی 1394 برای مدت یکسال غرض رفت وآمد کارمندان مربوط خویش به 19 عراده موتر در نواحی شهر کابل محمد اغه لوگر ولسوالی میرچه کوت ونسوانی موسهی چهار اسیاب وکارمندان حرفوی ازمعینیت الی ساحه پنجم ازطرف صبح وعصر که قبلا اعلان آن نشر سپرده شده بود که بعد از مراحل افرگشائی انحلالیه شیراز طوفان بس ترانسپورت به کرایه روزانه مبلغ 42750 افغانی برنده شناخته شده است موضوع جهت آگاهی ابلاغ گردید اگر انحلالیه مذکره در دوایر دولتی با قیدداری ومسوولیت داشته باشند ازنشراعلان الی پنج روز بمدیریت عمومی تهیه وتدارکات سواد اموزی اطلاع دهند 5164

((ډېر ژر به يو شمېر ...

وياند نظيف الله سالارزي اسوشيېټډ پرس اژانس ته ويلي چې ولسمشر محمد اشرف غني غواړي د کندز، بادغيس، غزني، ننګرهار او هلمند لويپورې چارواکي لرې او پر ځای يې نور کسان مقرر کړي. ولسمشر په داسې حال کې دا پريکړه کړې چې د يادو پنځو ولايتونو زيات شمېر برخې کلونه کېږي د وسله والو مخالفينو په ولکه کې دي. د افغانستان د سيمه ييزو ارګانونو پخوانی مشر عبدالخالق فراهي چې دري ورځې وړاندې له دندې لرې شوی، هم تاييدوي چې د ملي وحدت حکومت غواړي د واليانو په کچه په سيمه ييزو ادارو کې پراخ او ژور بدلون راسنخ ته کړي. يوشمېر کارپوهان وايي، د ملي وحدت حکومت غواړي، د کابينې په څېر ټول ولايتونه هم په دوو برخو ووېشي او هر يو د خپلې خوښې کس په کې د

والي په توګه وګماري. چارواکي په داسې حال کې په محلي ادارو کې د بدلون خبره کوي چې، د افغانستان ملي شورا او مدني ټولنې انتقاد کوي چې حکومت بايد د سرپرستي قانون له منځه يوسي او سرپرست واليانو پرځای دې وړ او لايق کسان په دندو وګماري. د امنيتي چارو خينې کارپوهان وايي له څه باندې دوو مياشتو راهيسې واليان او نور سيمه ييز چارواکي د سرپرستانو په توګه کار کوي چې د ناامنيو د زياتېدو يو علت همدا هم کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد
HEWAD DAILY

سیاسي - اقتصادي ورځپاڼه

چهارشنبه د ۱۳۹۳ ل د لیندی ۱۲ مه د ۱۴۳۶ ق د صفرالمظفر ۱۰ مه د 3/12/2014

ایټالیا له افغانستان سره ملګرتیا او همکاري ته ...

[illegible]

د افغاني، پیر او پلور

[illegible]

افغانستان له اماراتو د کریکټ پروني لوبه وګټله

افغانستان او د عربي متحده اماراتو تر منځ په دوبۍ کې د شلورو پو ورځنیو لوبو د لړۍ په دریمه لوبه کې افغانستان سیالي لوبډلې ته په ورسټي اوور کې ماتې ورکړه. میرویس اشرف نامتو خپډلې ۵۱ منډې وکړې او د اماراتو له خوا ټاکل شوې د ۲۷۳ منډو هدف یې د وروستي اوور په شلورم توپ تر لاسه کړ. د لوبې پچه افغانستان وګټله او لومړی دوو میچونو کې د لوبډونکو له خوا د ټاکلو شویو لوبه وکړه او تیرو لوبو هر ډیشتس یې د ۲۷۳ مجموعي منډو په لاسته راوړلو کې خپل رول ولوباوه شوی په ۲۰ اورونو کې د ۲ ویکټو په سر ۱۰۲ منډې او بیا په ۳۲ اورونو کې پر ۲ ویکټو ۲۲۱ منډې کړې وې. په بالنګ کې د افغانستان له خوا دولت ځدران ۲ او میرویس اشرف، جاوید احمدي او سمیع الله شینواري یوه یوه ویکټه واخیسته.

په خواب کې د افغانستان د سر لوبغاړو په

هدفونو په دفاع کې د بالرانو ټاکي راتلو ته په پام سره یې دا ځل لومړی د بالنګ پرېکړه وکړه. افغان لوبډلې پرون په ټیم کې ځلور بدلونونه راوستي وو په پیلنګ کې د عثمان غني پر ځای جاوید احمدي او په الرونډرانو کې د ګلبدین نایب پر ځای شفیق الله شفق لوبډل وو او په بالنګ کې د حمید حسن او شرف الدین شرف پر ځای شاپور ځدران او خوان تیز بالر فرید ملک ته چانس ورکړل شوی و. د اماراتو لوبغاړو کې له پیله تر پایه په

ځانګړې ډول ټیم ته نوي راغلي جاوید احمدي ځلکه لوبه پیل کړه. توسوري یوه شپږیزه او ۱۱ ځلوریزې ووهلې او پر ۴۴ توپونو یې ۴۷ منډې وکړې. د احمدي د ځنګې لوبې په مټ افغانستان ۱۳ اورونو کې پر ۲ ویکټو ۹۱ منډې جوړې کړې وې او داسې ښکاریده چې د ۲۷۳ منډو په تعقیب کې به له ډیرو ستونزو سره مخامخ نه شي. د لوبو په اړه کورني او نړیوال نور خبرونه د هیواد په شپږم مخ کې لوستلی شئ.

مشرانو جرګه د کاري کابینې پر ژر ...

عمده لامل په هیواد کې ناوړه سیاسي وضعیت بولي. افغان ولسمشر او اجرایي رییس د یکشنبې په ورځ وویل چې د لوی کابینې غړي به له دوو نه تر ځلورو اونیو پورې د باور رایې اخیستلو په خاطر ولسي جرګې ته معرفي شي او تر هغو به د وزارتونو ارشد مرستیالان د سرپرستي چارې په غاړې ولري. خو یو شمیر نور سناتوران بیا اندېښنه لري چې ممکن دغه موده نوره هم و ځنډول شي. یو له دغو سناتورانو هدایت الله رهایي دي: «که وضعیت داسې وي چې مرستیالان به د ځلورو اونیو لپاره سرپرستان وي او دا موده به بیا اوږه اونۍ دوام وکړي؛ دا به د افغانستان حالات خراب کړي او د ملي وحدت حکومت اعتبار به هم له منځه ولاړ شي.» د سیاسي چارو کارپوهان د کابینې په اعلان کې ځنډ د ولسمشر او اجرایي رییس تر منځ د اختلافاتو له امله بولي. خو د ولسمشر ویاند نظیف الله سالارزي له دې ورآندې آزادي راډیو ته ویلي وو چې دواړه مشران د کابینې په برخه کې پر ډیرو مواردو موافقې ته رسیدلي دي.

اطلاعیه وزارت اطلاعات و فرهنګ

«سالنامه افغانستان با پیشینه نشراتی بیش از هشتاد سال وقایع و رویداد های یک ساله را در محتوای خویش جاداده است، اگر میخواهید از محتویات مفید آن مستفید شوید و اگر میخواهید دارای یک دایره المعارف جامع باشید و اگر میخواهید در باره تاریخ کشور تحقیق نمائید، لطفاً به منظور دستیابی به کتب وسالنامه های افغانستان به غرفه های فروش کتب وجراید ریاست انتشارات کتب بیهقی مراجعه نمائید

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خبرتیاوې

د دغه وزارت له یایا خبرتیاو سره سره یو زیات شمیر چاپي رسنۍ دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو دقانون د ۲۸ مادې له یه پام کې نیولو پرته، له دغه وزارته د جواز له اخیستلو پرته په غیر قانوني ډول فعالیت کوي. داطلاعاتو او فرهنګ وزارت دوروستي ځل لپاره ټولو چاپي رسنیو ته ابلاغوي چې د دغې خبرتیا دخپریدو له نیټې دیوې اونۍ په د ننه کې دې دخپرونو او عامه اړیکو ریاست ته مراجع وکړي او د فعالیت جواز دې تر لاسه کړي، له دې پرته به له سرغړونکو سره قانوني چلند وشي.

....

دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو دقانون د ۲٦ مادې ددویمې فقرې له مخې دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو دقانون په ۲۷ ماده کې ټولې لیکل شوې رسنۍ او بنسټونه مکلفیت لري چې کال په کال دکال په پای کې مالي رپوټ او دغه راز دخپل فعالیت او نه فعالیت رپوټ درسنیو عالي شورا ته وړاندې کړي له دې پرته فعالیت یې دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو دقانون پرخلاف دی او له قانوني چلند سره مخامخ کیږي

....

دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو دقانون د ٤٥ مادې د ۷ او ۸ فقرې له مخې چې دغه شان صراحت لري دتاوتریخوالي او تیري دقربانیانو دهویت افشاکول او دتصویرونو خپرول په داسې ډول چې دهغوی ټولنیز حیثیت ته زیان ورسوي او هم هغه اثار او مطالب چې دټولنې وګړو په تیره بیا دماشومانو او تنکیو ځوانانو رواني امنیت او اخلاقي سلامتیا ته زیان رسوي، دډله ییزو اطلاعاتو دوسایلو له لارې دهغو خپرول منع دي. داطلاعاتو او فرهنګ وزارت ددغې مادې له مخې ټولو دولتي او خصوصي تصویري رسنیو ته ابلاغوي چې دځانمرګي برید او چاودنې دزره بوږنوونکو پېښو دقربانیانو دتصویرونو له خپرولو ځخه چې دهیواد ددښمنانو له خوا په پلایلو سیمو کې ترسره کیږي او دهیوادوالو دسرتېرو اومالي تاوان سبب کیږي دتیپانو او شهیدانو دانساني اواسلامي کرامت او دقربانیانو دکورنیو دیت او حیثیت دساتنې او هم دټولنې دافرادو درواني امنیت او داخلاقي سلامتیا د ساتنې په لاره کې ډډه وکړي

به تامین امنیت در کشور رسیده گی می کنیم

ستر جنرال عبدالرشید دوستم

ستر جنرال عبدالرشید دوستم سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری شام دیروز در دیدارش با نماینده گان ولایت قندز در شورای ملی و برخی از جوانان آن ولایت، مشکلات موجود در قندز از ناحیه بد امنی و بروز جرایم را مورد بحث و بررسی قرار داد. در جریان این دیدار مولوی عبدالله قرلق، شکریه پیکان نماینده گان ولایت قندز در پارلمان کشور ویک تن از جوانان به نماینده گی از دیگران صحبت نموده و معضلات و دشواری های مردم قندز را به سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری برشمردند. از صحبت های آنان بر می آید که در چند هفته اخیر به تعداد هفده تن از شهروندان قندز که در گمرک شیرخان بندر کار می کردند از سوی مخالفین مسلح اختطاف شده اند که هنوز در اسارت آنان به سر می برند. آنان از سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری تقاضا کردند تا به این مساله توجه جدی مبذول بدارد. سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری در این رابطه به رئیس امنیت

ولایت قندز هدایت داد تا در راه رهایی آنان از هر طریق ممکن استفاده نماید. نبود امنیت، نبود کادر های مسلکی در ادارات دولتی، کم بودن سهمیه حجاج ولایت قندز، نبود شفاخانه و پوهنتون معیاری و درست در قندز، عدم تقرر کادر های مسلکی محلی در ادرات و عدم اعزام جوانان قندز در بورسیه ها غرض ادامه تحصیلات عالی از جمله مشکلاتی بودند که از سوی نماینده گان مردم قندز به سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری ارایه گردیدند. سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری از دیدار با نماینده گان مردم ولایت قندز در پارلمان و جوانان آن ولایت اظهار خرسندی کرده گفت که به وعده خود در مورد ایجاد وزارتی برای جوانان کشور وفا خواهیم کرد. سرپرست و معاون اول ریاست جمهوری افزود که مشکلات امنیتی قندز در بحث های شورای امنیت همیشه مطرح شده است و دیگر مشکلات ولایت قندز نیز از دید زعامت کشور پوشیده نیست

ص ۷

د ارزګان وګړي په ولسي جرګه کې له خپل استازي شکایت کوي

د ملي شورا دواړو مجلسونو ریسانو پرون په ګډه دارزګان ولایت د خلکو سلو تنو سپین ږیرو او مشرانو شکایت په ملي شورا کې دغه ولایت دیوشمیر استازو په شتون واوریده. هغوی استازو وویل په داسې حال کې چې سندونه او مدارک په لاس کې لري ددوی پلرنۍ ادیره، مځکه او داستوګنې کورونه دولتي جرګې دشکایتونو داوریدو دکمیسیون دریس عبیدالله بارکزي له خوا غصب او خلک یې په وهلو او ټکولو سربیره له خپلو کورونو ځخه شړلي او تل له خپل واکمنۍ موقف ځخه ناوړه استفاده کوي. هوی وویل سره له دې چې ستري محکمې موضوع دارزګان ولایت محکمې ته سپارلې ده چې د دغې قضیې په باب پرېکړه وکړي، خو عبیدالله بارکزی چې وسې نه غوښتل دده پرخلاف پرېکړه وشي، ددغې محکمې قاضي یې له دندې ځخه ګوښه کېدو ته اړ ایستلی دی. د مشرانو جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار وویل استازي دې باید له خپلو موکلینو سره مناسب او نېه چلند ولري. اوږ ژوندانه په پلایلو برخو کې دهغوی دستونزو دحل کولو په لټه او اوسې نه دخپلو شخصي ګټو په فکر کې چې دخلکو دخورولې او کړولې سبب شي. مسلمیار له هغوی سره دهر راز همکارۍ د ژمنې په ترڅ کې وویل دغه ستله له اړوندو مسوولینو سره طرحه کوي او دسلب او منصفانه حل لارې چارې به ولټوي. دغه راز دولسي جرګې رییس عبدالروف ابراهیمي په خپلو خبرو کې وویل دملکیت دالبات لپاره، لازم سندونه او مدارک ضروري دي. اوپه هغه صورت کې چې سکو سندونه باوري وي دخلکو داستازي په توګه دهغه پر ملاتړ مکلف دی او له اړوندو مسوولینو سره به شریک کړم

باختر

ازبکستان په افغانستان او سیمه کې دامنیت ...

لري له دې امله نسیمې په هر یوه هیواد کې امنیت او ټیکاو کولای شي دګاونډیو هیوادونو په امنیت اولیات باندې اغیزه ولري. تروریستان هلې ځلې کوي چې په افغانستان او منځنۍ آسیا کې سوله اولیات ګډو ډ کړي اوله دې امله هغوی زموږ دټولو ګډ دښمنان دي او دهغوی پرضد مبارزه هم ګیډای شي دسیمې دټولو هیوادونو کار وي. دافغانستان او ازبکستان ترمنځ اړیکې لازیات انکشاف ومومي » په دې کټنه کې دازبکستان جمهوریت سفیر دغه راز افغانستان ته دخپل هیواد دسادراتي پرېښنا په کچه دزیاتوالي خبر ورکړ او زیاته یې کړه چې په دې اړوند زموږ دهیوادونو ترمنځ نوی قرارداد لاسلیک شوی او خبر یې ورکړ چې دازبکستان داوسپنې دپټلۍ وزارت مرستیال کابل ته راغلی چې داوسپنې دپټلۍ دغځولو په برخه کې دافغانستان له مقاماتو سره خبرې وکړي. په دې کټنه کې دازبکستان جمهوریت سفیر خو افتخاري سکې چې په هغو کې دامیر تیمور، میرزا الغبیګ، امیر علي شیرنوایي او دظهیرالدین محمد بابر په ګډون دمنځنۍ آسیا دتاریخ لوښالي څیرې حک شوي دي دجمهوري ریاست سرپرست اولومړي مرستیال ته وړاندې کړې. په مقابل کې دجمهوري ریاست سرپرست او لومړي مرستیال دپغمان دتاق ظفر تندیس چې دلاجوردو ډبرو ځخه جوړ شوی دی، دسوغات په ډول دازبکستان جمهوریت سفیرله ورکړ شو

باختر

د افغانستان لپاره د لاجورد ترانزیتي ...

پر کړېو زمو د عمل لپاره لار ترانزیتي دغه ترانزیتي لاره د فارياب ولایت د آقینې له بندر او د هرات ولایت د تورغونډي له بندر ځخه پیل او د ترکمنستان د ترکمن باشي بندر په لور غځیدلې او د خزر له بحیرې ځخه له تیریدو وروسته د آذربایجان پلازمینې باکو او وروسته له هغه د ګرجستان تفلیس او د توري بحیرې د بندرونو پورې رسیږي. له دې سره د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع ځونې چارواکي وايي؛ هر څومره چې ژر دا لار جوړه شي؛ ورسره به په افغانستان کې اقتصادي فعالیتونه تیز او دا وویل؛ د دې لارې له جوړېدو سره به ډیر هغه مالونه هم خپل افغاني هویت پیدا کړي چې د کلونو کلونو راهیسې نورو هیوادونو په خپل نوم مارکیټ ته وړاندې کړي دي. "موږ به وکولای شو چې د دې لارې له جوړېدو سره سوداګریز مالونه او نور توکي دلته توزیع او یا اروپا ته په لږ وخت کې ورسوو؛ دا تر ټولو لنډه او اسانه لار ده چې افغانستان به له اروپا سره وصل کړي او په هیواد کې به د کاروبار زمینه برابره کړي؛ له دې سره موږ به وکولای شو چې په اسانۍ سره خپل مالونه په خپل هویت نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړو." د لاجورد لار په اصل کې د ورېښمینو د لارې بیارغونه ده چې لرغونتیا یې له نن ځخه وړاندې ۲۰۰۰ کلونو ته رسیږي. د لاجورد لار د وخت په ټهمو مواصلاتي لارو ځخه شمیرل کېدله چې د افغانستان لاجورد او ځینې نورې قیمتي ډبرې به له دې لارې د قفقاز، روسیې، بالکان، اروپا او د افریقا شمال هیوادونو ته لیږدول کېدلې. خو د دې لارې له ویجاړیدو وروسته افغانستان ته د سوداګریزو توکو راوړل یا ورځخه صادرول تر ډیره د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې کیږي چې نسبتاً ډیره لرې او غیر مصونه لار بلل کیږي

هیواد به د ګاونډیو هیوادونو له هغه چلنده خلاص شي چې ډیر کله غواړي سیاسي غوښتنې په موږ باندې د اقتصادي مجبورتیا له امله عملي کړي. د دې خولې د سوداګرۍ مرستیال محمد یونس مومند ازادي راډیو ته

د ورث وګړي له وسله وال...

دېراخو بدلونونو په لاره کې ترلاس لاندې دي، دورث دخلکو اندیښنې به هم پای ته ورسول شي او هغه کسان چې د عمومي نظم او امنیت ګډوډونکي دي، دقانون منګولو ته به وسپارل شي

باختر

بهرني لنډ خبرونه

«د البغدادي میرمن او زوی نیول شوې دي»

داسې ویل کیږي چې د داعش ډلې د مشر البغدادي میرمن او یو زوی په لبنان کې نیول شوي دي. دغو دواړو تونسل چې په جعلي پاسپورټونو سره له سوریې سفر وکړي. د لبنان د امنیتي خواک یوه استازي په بیروت کې ویلي، چې د اسلامي دولت ډلې د مشر ابوبکر البغدادي، میرمن او یو زوی، لس ورځې دمخه په داسې حال کې نیول شوي چې له سوریې ځخه یې ژل هیواد ته سفر کاوه. دلې ځلې د سوریې ګلیبت لاره دلې ښکلي او زوی یې ځخه کوله چې له سوریې لبنان ته په جعلي پاسپورټ سفر وکړي. دغه ښځه تر نیول کیدو وروسته د لبنان د دفاع وزارت ته انتقال شوې او هغه پوښتنې ګروپ لاندې ده. دا عش یا اسلامي دولت ډلې په عراق او سوریه کې ګې سیمې لاندې کړې او هلته یې اسلامي خلافت اعلان کړی دی. دغې ډلې په سلګونو داسې اسلان وژلي او اعدام کړي، چې وايي له عقیدې ځخه اوښتي وو.

وسله والو د کینیا د ډبرو سکرو کان ۳۶ کارګر وژلي

د کینیا شمال ختیځ ماندیرا ښار ته څېرمه د ډبرو د سکرو په یوه کان کې د وسله والو برید ۳۶ کارګوونکي وژلي دي. برید د نېږې دوشنبې پر شپه له ماندیرا ښار نه نیږدې ۱۵ کیلومتره لرې له سومالیا سره پر پوله شوی دی. اټکل کیږي، چې دغه برید به د سومالیا سخت دریځي اسلامپالي الشباب ډلې جنګیالیو کړی وي. خو لا اوسه هیڅ کومې ډلې ددغه برید پړه نه ده منلې. یوه اوونۍ وړاندې هم په واجر ښار کې په ورته برید کې یو سرې وژل شوي و او ۱۲ نور ټپیان وو. اخیستو کې کړي و. په ۲۰۱۱ کال د افریقا د سولې ساتو ځواکونو ایتلاف په سومالیا کې د اسلامپالو د ځپلو په هدف لاسونه سره یو کړل.

پر (سوني پیکچرز) شرکت د انټرنېټي برید پلټنه کیږي

د سوني پیکچرز په نامه امریکایي فلم جوړوونکي شرکت باندې د هغه انټرنېټي برید په اړه پلټنې کیږي، چې پر مټ یې د دغه شرکت کمپیوټري سیستم غیر فعال شوی او ځینې هغه فلمونه یې پر انټرنېټ پر لیکه شوي، چې تر اوسه په رسمي ډول نه دي خپاره شوي. داسې ټاکاید شوي رپوټونه دي، چې د دغه برید تر شا به د شمالي کوریا لاس وي. ځکه دغه هیوادګواښ کړی، چې د سوني د راتلونکي فلم په اعتراض کې به ګام پورته کړي. د دغه کومیډي فلم موضوع د امریکا د ځارګري اداري CIA دسیسه ده، چې پر مټ یې د شمالي کوریا د واکمن کیم جونګ اون د وژلو هڅه کیږي. سوني پیکچرز هڅه کوي، چې د دغه انټرنېټي برید سرچینه او انګیزه معلومه کړي. خو دا چې تر اوسه په دې اړه کره معلومات نه دي تر لاسه شوي، په دې اړه پر انټرنېټ داسې شکونه را پارېدلي، چې دغه برید له شمالي کوریا سره تړلی. ټاکل شوې وه، چې د رواني میاشتې په اوږدو کې خپور شي.

د سوریې پر کډوالو مرستې بندې شوې

د خوراک نړیوال سازمان، د پیسو د کمښت په خاطر د سوریې یو اشاریه اووه میلیونو کډوالو ته خپلې مرستې ځنډولې دي. لکه څرنګه چې په روم کې د خوراک نړیوال سازمان ویلي، هغو هیوادونو چې د سوریې له کډوالو سره یې د مرستو ژمنې کړې وې تر اوسه پر ژمنو وفا نه ده کړې. په کډوالو چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر انتونیو ګوترز، په ژنیو کې ویلي، چې ملاتړ نه باید شا ورته ګرځول شي. ګوترز، د ژمي راتګ ته په اشارې سره ویلي، چې په دغه وخت کې باید په هیڅ صورت په مرستو کې کمښت رانه شي، ځکه هغه لسونه زره کډوال به سخت اغیزمن شي، چې همدا اوس په بشپړه توګه په نړیوالو مرستو پورې تړلي دي. په سوریه کې له نږدې دریو کلونو راهیسې کورنۍ جګړې میلیونونه وګړي کډوال کړي او ګڼ شمیر نور یې وژلي او ټپیان کړي دي.

له بهرنیو منابعو ځخه

د افغانستان او آذربایجان پر دوه اړخیزې همکارۍ ...

د بنې رهبرۍ لمره ویلله د افغانستان جمهوررییس په آذربایجان کې په وروستیو کلونو کې شویو پرمختګونو ته د اشارې په ترڅ کې وویل، موږ نه یوازې له آذربایجان سره د دوه اړخیزو همکاریو دوام غواړو، بلکې غواړو چې د دغه هیواد له تجربو ځخه د اصلاحاتو په برخه کې هم استفاده وکړو. جمهور رییس غني همدا راز په وروستیو کلونو کې د آذربایجان اقتصادي پرمختګ وستایه او وې ویل، موږ غواړو چې افغانستان د لاجوردو د لارې له طریقه له اروپا سره و نښلوو او دا د آذربایجان له مرستې پرته امکان نه لري. ده زیاته کړه زموږ لید دا دی چې افغانستان د انرژۍ په مرکز بدل کړو خو د دې کار لپاره په هیواد کې د سوداګرۍ او پانګونې پراختیا ډېره مهمه ده. په دغې کتنه کې همدا راز د افغانستان او آذربایجان جمهورو ریسانو د افغانستان له لارې د سیمې یو شمیر هیوادونو ته د آذربایجان د ګازو د لېږد او په نورو بیلابیلو برخو کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د لنډ مهالو، منځ مهالو او اوږد مهالو همکاریو پر پروګرامونو بحث وکړ او وویل شوه چې د مطرح شویو موضوع ګانو د تخنیکي اړخونو د پیل او عملي کولو لپاره، باید د دواړو هیوادونو له خوا پلاوي وټاکل شي تر څو بیا دي موضوع په یو ستراتیژیک چوکاټ کې تنظیم او پلي کړي

Dr : Shamsulhaq Aryanfar, Head of Govt. Dailies

Editor -in-chief: Ahmad Zalmai Shahbaz
0700078578

Deputy: Shah Wali Qarar

د ورځپاڼې د وېش ځانګه
۰۷۰۷۹۶۰۱۷۱ _ ۰۲۰۲۳۰۰۳۳۷

جایځای د آزادی مطبعه

کتونکې ډله
- سیدیوسف 'شرفي'
- محمد صادق قلندري
- میر مسحدی عزیزي
- اصغر بختي

دورځپاڼو رئیس داکتر شمس الحق آریان فر ۰۷۹۹۳۲۵۸۵۰
آمر او مسوول مدیر احمد زلمی شهباز ۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸ ۰۲۰۲۳۰۲۱۳۰
مرستیال شاولي قرار ۰۷۹۹۳۱۴۵۰۶ ۰۲۰۲۳۰۲۱۲۹
سرپرست مسوول سکرتر شیرمحمد نظری ۰۷۷۲۰۳۲۷۱۵
ډیزاین احمدشاه سخی ۰۷۹۹۵۶۶۲۸۵

برېښنالیک hewad1948@yahoo.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library